# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

## مباحثات

---

بروز منگل 24 جون 1997

(بمطابق 18 صفر 1418 ہجری)

جلد 6 　　　　　　　　　　　　 شمارہ 6

سرکاری رپورٹ

مندرجات 　　　　　　　　　　　　 صفحہ نمبر


| مندرجات | صفحہ نمبر |
|---|---|
| 1 ۔تلاوت کلام پاک اوراس کا ترجمہ | 1 |
| 2 ۔اراکین اسمبلی کی رخصت | 2 |
| 3۔ مطالبات زرپر رائے شماری | 3 |

# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

اسمبلی کا اجلاس اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز منگل 24 جون 1997ء بمطابق 18 صفر 1418 ہجری صبح دس بجکر پانچ منٹ پر منعقد ہوا۔

جناب سپیکر، ہدایت اللہ خان چمکنی، مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

## تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ۔

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ہ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ہ

وَالْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِیَآءُ بَعْضٍ یَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَیَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ یُقِیْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَ یُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَ یُطِیْعُوْنَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ ط اُولٰٓئِكَ سَیَرْحَمُهُمُ اللّٰهُ ط اِنَّ اللّٰهَ عَزِیْزٌ حَكِیْمٌ ہ وَعَدَ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِیْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَا وَمَسٰكِنَ طَیِّبَةً فِیْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ط وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ اَكْبَرُ ط ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِیْمُ ہ (پارہ ۱۰ سورہ التوبہ آیات ۷۲-۷۱)

(ترجمہ)۔ اور مومن مرد اور مومن عورتیں یہ سب ایک دوسرے کے رفیق ہیں بھلائی کا حکم دیتے ہیں اور برائی سے روکتے ہیں نماز قائم کرتے ہیں زکوٰۃ دیتے ہیں اور اللہ اور اس کے رسول صلی اللہ علیہ وسلم کی اطاعت کرتے ہیں اور یہ وہ لوگ ہیں جن پر اللہ کی رحمت ہو کر رہے گی یقیناً اللہ سب پر غالب اور حکیم و دانا ہے ان مومن مردوں اور مومن عورتوں سے اللہ کا وعدہ ہے کہ انہیں ایسی جنتیں دے گا جس کے نیچے نہریں بہتی ہونگی وہ ان میں ہمیشہ رہیں گے ان سدا بہار باغوں میں ان کے لئے پاکیزہ قیام گاہیں ہونگی اور سب سے بڑھکر یہ کہ اللہ کی خوشنودی انہیں حاصل ہو گی یہی بڑی کامیابی ہے۔

## اراکین اسمبلی کی رخصت

جناب سپیکر: جن معزز اراکین اسمبلی نے رخصت کے لئے درخواستیں ارسال کی ہیں ان کے نام یہ ہیں،- جناب سلیم خان ایڈوکیٹ صاحب نے 23-6-97 ' جناب وجیہہ الزمان صاحب نے 21-6-97 تا 23-6-97 ' جناب جان محمد خٹک صاحب نے 23-6-97 اور 24-6-97 اور جناب قیموس خان صاحب نے 24-6-97 تا 26-6-97 کے لئے۔

Is it the desire of the House that leave may be granted to the honourable Members?.

**(The motion was carried)**

**Mr. Speaker:** Leave is granted.

یوریکوسټ مے ستاسو په خدمت کښې کولو چه ټول ډیمانډ شپږ محلو ینبت دیاو په هغے باندے کټ موشنز ایک سو پچاسی دی۔ د دے د پاره مونږ سره درے ورځے دی۔ زه به تاسو ته صرف دا (4) Rule 148 اولوله چه دے کښې دا ورکړی دی چه "On the last of the days allotted under rule 141 for the stage referred to in clause (c) of rule 140 at the time when the meeting is to terminate, the Speaker shall forthwith put every question necessary to dispose of all the out-standing matters in connection with the demands for grants" نو بیا د سپیکر دا مجبوری ده چه هغه به بیا هم دغسے، هغه بیا پریس والا اولیکی چه Bulldozing اوشو، حالانکه دا Legal requirement دے نودے د پاره ستاسو په خدمت کښې، د Movers په خدمت کښې مے دا عرض دے چه دوی Must be very short and very brief. خکه چه پکار ده چه مونږ په دے حساب باندے

هیخ هم چه نه وی چه کم ازکم Fifteen per day مونږه دا سرته اوسوونودا به ستاسو ډیره مهربانی وی چه خپل کټ موشن تاسو په څومره باندے راوستے دی چه تاسو ته په هغه ټولو باندے موقع ملاؤ شی او قانونی حیثیت نے هم پوره شی نو مهربانی به اوکړئی لږ دےته به خاص توجه اوکړئی اود پینځوشپږو منټو نه به زیات وخت نه اخلئی Thank you very much جی - Demand No.1. The honourable Minister for Law and Parliamentary Affairs, N.W.F.P., to please move his Demand No.1

## مطالبات زر پر رائے شماری

**Mr. Bashir Ahmad Bilour:** (Minister for Law and Parliamentary Affairs): Mr. Speaker Sir, I beg to move:

"that a sum not exceeding rupees twenty four million, two hundred and seventy two thousand only be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Provincial Assembly".

**Mr. Speaker:** The motion before the House is:

"that a sum not exceeding rupees twenty four million, two hundred and seventy two thousand only be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Provincial Assembly". Since there is no cut motion on

this demand, therefore, the question is:

"that a sum not exceeding rupees twenty four million, two hundred and seventy two thousand only be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Provincial Assembly".

Those who are in favour of it may say "Yes" and those against it may say "No".

(The motion was carried).

Mr. Speaker: The "Ayes" have it. The demand is granted.

(Applause).

Mr. Speaker: Demand No. 2. The honourable Minister for Excise and Taxation, N.W.F.P., to please move his Demand No.2.

Mr. Fateh Muhammad Khan (Minister for Excise and Taxation):

Mr. Speaker sir, I beg to move:

"that a sum not exceeding rupees ten million, nine hundred and ninety thousand only be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Provincial Excise".

Mr. Speaker: The motion before the House is:

"that a sum not exceeding rupees ten million, nine hundred and ninety thousand only be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Provincial Excise".

There are some cut motions on this demand. Mr. Pir Muhammad Khan, MPA to please move his cut motion on Demand No.2.

جناب پیر محمد خان، شکریه جناب سپیکر صاحب ـ دے ډیمانډ نمبر ټو باندے د دس هزار روپو کټ موشن ما پیش کړے دےاو-----

جناب سپیکر، بس تاسو نے Move کړنی کنه جی ...I beg to move

جناب پیر محمد خان: ښه جی- زه ډیمانډ نمبر ټو باندے د دس هزار روپو کټ موشن پیش کوم-

**Mr. Speaker:** The motion is that the total grant be reduced by rupees ten thousand only. Mr. Ahmad Hassan Khan, MPA to please move his cut motion.

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر ! زه په مطالبه زر نمبر دو کښی د یو زر روپو کمتوتني تحریک پیش کوم-

**Mr. Speaker:** The motion is that the total grant be reduced by rupess one thousand only. Haji Muhammad Yousaf Khan Tarand, MPA to please move his cut motion.

حاجی محمد یوسف خان ترند: جناب سپیکر ! ډیمانډ نمبر دوئم کښی زه د پینځو روپو کمتوتنی تحریک پیش کوم-

**Mr. Speaker:** The motion is that the total grant be reduced by rupees five only. Nawabzada Mohsin Ali Khan, MPA, to please move his cut motion.

نوابزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر! میں ایک روپے کی کٹوتی کی تحریک پیش کرتا ہوں۔

**Mr. Speaker:** The motion is that the total grant be reduced by rupee one only. Mr. Pir Muhammad Khan please.

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب!---------------------

ایک آواز: وزیر صاحب ښه سړے دے، ته خو دا خپل تحیز واپس واخله۔

جناب پیر محمد خان: نه، ښه سړے دے، دے کښې هیڅ شک نشته دے د محکمې مسنټرصاحب خو ډیر ښه سړے دے لړ انشاء الله که دے کوشش اوکړی نو دا محکمه لږکوټی کارکردگی هم صحیح کړی نو ډیره به ښه شی۔ دا محکمه اکثر ټیکسونه چه لګوی نو په هغې کښې دوی که یو سړے د سلو روپو ټیکس قابل نه دے نو دوی هغه دومره تنګ کړی چه هغه په رشوت باندے مجبوره شی د هغه سلو روپو په ځائے باندے ترینه زر روپے رشوت واخلی او دومره نے Pressurise کړی چه هغه که ټیکس پرے صحیح لګوی نو هغه د سلو روپو قابل نه وی۔د بلے غاړے داسے خلق وی چه هغه د زرو روپو قابل وی خو چه کله دے ورسره در پرده ځان جوړ کړی نو د هزار په ځائے پرے پچاس روپے اولګوی یا سل روپے پرے اولګوی، نو د دے کارکردګی صحیح نه ده۔ ما ځه نوټس خو پرے اغستے دے خو د محکمے وزیر صاحب ډیر شریف سړے دے، ځما یقین دے چه دے به دا

محکمه هسے تهیک کړی نو که دوی دے طرف ته توجه ورکړی نو بیا به زه په خپل کټ موشن زور نه اچوم۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! په دے Sense کښې نه چه گنی دے محکمه کښې څه داسے غلطیانے دی خو زه وائیم چه یو ډیر زیات ښه سړی ته یوه ډیره ناقصه محکمه حواله شوے ده۔خما دا یقین دے چه د هغوی ښه والے به انشاء الله تعالیٰ د دے محکمے د اصلاح باعث اوګرځی په دے سلسله کښې زه د هغوی په خدمت کښې دا درخواست کومهاو د هغوی په بردبارني ، تحمل او ایماندارئی باندے څمونږ شک نشته دے او د ذاتی پیچان په وجه د هغوی د دے Qualities ذکر نه کول به بے انصافی وی نو خما دا درخواست دے چه په دے محکمه کښې د Improvement ډیر زیات گنجائش دے او دا هغه واحد ه محکمه ده کومه چه د دے صوبے د مالی وسائلو د ملا د تیر مثال دے۔ د Back-bone په حیثیت سره ،نو خما د هغوی نه دا توقع ده او زه هغوی ته دا درخواست کوم او ورسره ورسره ترینه دا تپوس کول غواړمه چه د گاډو رجسټریشن د پاره کومه قانون سازی شوے وه په هغے باندے د عمل درآمد کولو د هغوی کله اراده ده؟

**Mr. Speaker:** Haji Muhammad Yousaf Khan Tarand, MPA, please.

حاجی محمد یوسف خان ترند: جناب سپیکر ! زه د منسټرصاحب نه دا ضرور طمع لرمه چه دے محکمه کښې کومے خرابني دی یا کمزورني دی ،هغه به ضرور په دے باندے توجه ورکوی۔ستاسو په وساطت باندے به د ده په نوټس کښې زه دا یو گزارش راوستل غواړمه چه ایکسائز اینډ ټیکسیشن سره د

کاړو د رجسټریشن کار دے ۔نن د هغے حالات داسے دی چه په دے رجسټریشن باندے د اعتماد اظهار څوک نه کوی او د هغے په وجه باندے ډیر شریف خلقو ته بے ځایه ، بے وخته او نا وخته تکلیف رسی حالانکه یو کاډے چه رجسټرډ شو نو بیا د قانون په لحاظ ، د اصولو په لحاظ او د اخلاقو په لحاظ سره هغے ته غلط ونیل مناسب نه دی ځکه چه رجسټریشن یو داسے محکمه کوی چه هغه د حکومت یوه ذمه واره محکمه ده نو ځما ستاسو په وساطت باندے د منسټرصاحب په خدمت کښې دا عرض دے چه دوی د دا اوګوی چه کومو خلقو په دے کښې فراډونه کړی دی ، کومو خلقو په دے کښې غلط کارونه کړی دی ، مونږ نن پورے نه دی اوریدلے چه یو افسر د رجسټریشن په کیس کښې ګرفتار شو یا په هغوی باندے کیس جوړ شو او د هغوی د ناقص کارکردګئ په وجه باندے د دے محکمے نه د خلقو او د نورو محکمو اعتماد اوچت شوے دے نو دا یوه ضروری خبره ده ، زه ستاسو په وساطت باندے منسټر صاحب ته دا ګزارش کوم چه دے ته د خصوصی توجه اوکړی او دے نه د هغه خرابئ لرے کړے شی چه کومے په دے کښې راپیده شوے دی۔مهربانی۔

**Mr. Speaker:** Nawabzada Mohsin Ali Khan, MPA please.

حاجی محمد عدیل ( ڈپٹی سپیکر )، جناب سپیکر! پوائنٹ آف آرڈر پر ہوں۔ میں آپ کی وساطت سے ایک روپیہ محسن علی خان کو پیش کرنا چاہتا ہوں۔ یہ کیوں اسمبلی کا وقت ضائع کر رہے ہیں۔

نوابزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر! میں حاجی محمد عدیل کا ایک روپیہ Accept کر لیتا ہوں جی اور اپنی کٹ موشن واپس لیتا ہوں۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! لیکن ایسے معاملات تو اسمبلی سے باہر طے کرنے چاہیئں۔

حاجی محمد عدیل: جناب سپیکر! پچھلے دور میں سب معاملات اسمبلی سے باہر طے ہوتے تھے لیکن اب جو بھی بات ہوگی وہ اسمبلی کے اندر ہوگی۔

جناب سپیکر: آنریبل منسٹر! دوی چه دا کومے خبرے اوکڑے دے باره کښی Assurances ورته ورکړنی هغه ټولو مهربانی اوکړه خما خیال دے څوک هم نهPress کوی، هاں جی۔

جناب فتح محمد خان (وزیر مال)، هاں جی اول خو زه د دے خپلو ملګرو ډیر مشکور ئیم جی چه د دوی په نظر کښی چه څه خامئی وے یا کمزورنی وے د هغے نشاندهی ئے هم اوکړه او بیا ئے دا اوئیل خو زه د دوئی نه دا امید لرم چه دوی به ما پسے راځی او یا به ما ته وائی چه ته راشه زه به ورپسے ځمه او دوی ته چه په کوم کوم شی کښی څه نقصان ښکاریږی، زه به ورپسے ځمه اودوی ته په کوم کوم شی کښی څه نقصان ښکاریږی نو دا د ملک نقصان دے د صوبے نقصان دے په هغے کښی به هیڅ قسمه څه هچکچاهټ نه وی او په هغے به هیڅ قسمه دوی ته منع کول نه وی ـ دوی که کوم ځائے ما ته وائی چه ته راځه او په دے باندے بحث کوو او دا د دے ادارے په دے کښی هیڅ شک نشته خمونږ د ټولے صوبے حال او یا څنګه چه خمونږ د دے ملک حال دے نو زه د دے دفاع نه کوم چه دا ډیره صحیح چلیدلے ده ـ دوی ټهیک خبره کوی چه د سلو په ځائے زر اغستے شوے دی د زرو په ځائے باندے سل اغستے شوے دی دا په خپل ځائے هم ټهیک ده ـ په رجسټریشن کښی چه کومے ، ګهپلےشویدی یا په څه طریقه ورکړے شویدی دا په خپل

خانے هم ټهیک ده نو څنګه چه دوی اوونیل ، نو د یوے خبرے سره صرف
خما اتفاق نشته څنګه چه یوسف ترند صاحب اوونیل چه ګاډی ته یو خل
رجسټریشن ورکړے شو نو که هغه د غلا دے او که پردے دے او د هرچا
چه دے نو د هغے دے بیا دویم تپوس نه کوی -صرف د دے خبرے سره خما
اتفاق نشته د غلا شے که هرکله ملاؤ شی او د هر چا سره چه ملاؤ شی نو د
هغه نه د باقاعده تپوس کیږی او هغه د نیوے کیږی او په دے کښې به زه دا
اووانیم چه په دے کښې کوم اتهارټی والا ملوث وی نو هغوی ته هم سزا په
کارده زه په دے کښې د دوی ملګرتیا کوم او دوی به ما ته Point out کوی
او چه قانونی څه سزا مونږ ورکولے شو هغه به ورکوو او که څه نقائص
وی د هغے د لر کولو د پاره ما ته دوی څه تجاویز راکوی څه خبره خما
سره کوی، زه هر وخت کښې د دوی په خدمت کښې تیار به ولاړ یمه او
مونږ به کوشش هم دا کوؤ او زه غواړمه هم دا چه په خانے د دے چه دا بدل
کړه او دا را بدل کړه او دغه اوکړه او دا اوکړه د هغے په خانے باندے که مونږ
داسے بنیادی خبرو ته سوچ اوکړو او د محکمو ټهیک کولو د پاره، دا
خمونږ بندوبست چه کوم خراب د دے د ټهیک کولو د پاره مونږ صحیح
اقدامات اوکړو نو کیدے شی چه مونږ به د پنځوس کالونو خپل رخ یوبل
طرف ته بدل کړو او هغه به د دے ټولے صوبے د پاره د فائدے وی -نوزه دے
خپلو رونړو ته خواست کوم که دوی مهربانی اوکړی اودا کټ موشنز
واپس واخلی، نو مهربانی به وی -

<u>جناب سپیکر،</u> ټولو واپس واغستل جی - All the cut motions are lost being withdrawn by the honourable Members. Now the

question is:

"that a sum not exceeding rupees ten million, nine hundred and ninety thousand only be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Provincial Excise". Those who are in favour of it may say "Yes" and those against it may say "No".

(The motion was carried).

Mr. Speaker: The "Ayes" have it. The demand is granted. Demand No. 3. The honourable Minister for Excise and Taxation, N.W.F.P., to please move his Demand No.3.

Minister for Excise and Taxation: Mr. Speaker Sir, I beg to move:

"that a sum not exceeding rupees five million, six hundred and nine thousand only be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Stamp Dutes".

Mr. Speaker: The motion before the House is:

"that a sum not exceeding rupees five million, six hundred and nine thousand only be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the

year ending 30th June,1998 in respect of Stamp Dutes".

There are some cut motions on this Demand. Mr. Pir Muhammad Khan, MPA to please move his cut motion on Demand No.3.

جناب پیر محمد خان، جناب سپیکرصاحب! په ډیمانډ نمبر ۳ باندے زه د پانچ هزار روپو کټوتی پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees five thousand only. Mr. Ahmad Hasan Khan, MPA, to please move his cut motion on Demand No.3.

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر! میں مطالبہ زر نمبر 3 میں تین سو روپے کی کٹوتی کی تحریک پیش کرتا ہوں۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees three hundred only. Nawabzada Mohsin Ali Khan, MPA, to please move his cut motion on Demand No.3.

Nwabzada Mohsin Ali Khan: Sir, I withdraw my cut motion.

Mr. Speaker: Withdrawn. Mr. Pir Muhammad Khan, MPA, please.

جناب پیر محمد خان، جناب سپیکرصاحب! زه به هم هسے تجویز غوندے ورکړم منسټرصاحب ته چه په دے محکمه کښ اکثر دا ټکټونه چه خرڅیږی نو دا هم دوی یوسی او په بازارکښ نے په بلیک باندے چا ته ورکړی او په بلیک کښ بیا ګران خرڅیږی - که د سلو روپو ټکټ وی نو هلته کښ په پانچ سو

باندے خرڅیږی دے طرفته ته دے دوی خصوصی توجه ورکړی خکه چه د
دے نه عوامو ته نقصان دے نو انشاء اللّٰه په دے طریقه دوی د دے محکمے اصلا
ح کولے شی۔ شکریه جی۔

Mr.Speaker: Mr.Ahmad Hasan Khan MPA, Please.

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر! د دے محکمے د مطالبات زر په سلسلهٔ کښ
مونږ ډیر تیارے کړے ووخو چونکه منسټرصاحب او د حکومت وخت
دومره کم دے چه د هغوی مونږ دا نه شو وئیلے چه دے کښ څه کوتاهنی
اوخامنی دی نو انشاء اللّٰه د ډیر وخت ملاوېدو په بنیاد باندے او د هغوی د
قابلیت په بنیاد باندے دا توقع لرو چه اصلاح به اوشی۔ زه صرف د پیر محمد
خان صاحب د خبرے سره اتفاق کوم او دا درخواست کوم چه خما په هغه
اولنئی مطالبه زرکښ جناب منسټرصاحب دا اونه فرمائیل چه هغه د نمبرو
ورکولو په قانون سازی باندے به کله عمل درآمد اوشی او ما ته به بیا اووائی
خکه چه د هغے وخت تیر شوے دے د دے الفاظو نه پس زه د خپلے مطالبه
زر د واپس اغستلو درخواست کوم۔

وزیر مال، ډیره مهربانی جی زه د خپلو رونړو ډیرمشکورئیمه۔

جناب سپیکر، بتولو خپل Cut motions withdraw کړل جی۔

وزیر مال، یوه خبره جی، احمد حسن خان د هغه رجسټریشن په باره کښ
اوئیل، واقعی چه هغه خما نه پاتے شوے وه۔ دغه سلسله کښ جی د دوه
میاشتو نه تقریباً مسلسل خما ډائریکټر سره دا رابطه ده چه دا خود تیر یونیم
کال نه شروع ده دے باندے تاسو ولے زر ته زره غورنه کونی خکه هر یو
سړے راخی او وانی چه ما له دیو هندسے نمبر پکار دے او څوک وانی چه دوه

هندسو والا نمبرے پکار دی ، ډیر مشکلات پکښ جوړیږی او دا یوه ډیره ښه طریقه وه چه د هغے په وجه به دا منده چه بالکل غیر ضروری جوړے شوے دی دا به ختم شوے وے۔خما ورسره مسلسل رابطه ده کوم چهاوس بدل شو هغه ډائریکټر ته هم او دے موجوده ډائریکټر ته هم ، زه وایم چه زر ترزره په دے باندے کارروانی اوکړی خو هغه وانی چه هغه مخکښ چه چا له مونږه ټهیکه ورکړے وه هغه سړی چونکه هغه کار اونکړے شونو د دے وجے نه هغه نه چه زر ضمانت مونږه اغستے وو، هغه مونږه ضبط کړے دے او اوس دویم سړی ته مونږه ورکوو بیا د دویم ورته ما هم اوے چه تاسو هغے کښ څومره کارروائی کوئ ما د هغے نه وخت په وخت خبرونی ۔ هغے کښ هغوی دوه درے میټنګز کړیدی او هغه وائی چه د دے به مونږ زرته زره څه حل را اوباسو، بلکه ما ورته د خپل طرف نه دا تجویز ورکړے چه تاسو په خانے د دے چه یوکس ته ورکوئے تاسو دا پنځه شپږ، اته یا لسو ټهیکدارانو ته ولے نه ورکوئ چه هغوی زرته زره دا اوکړی په دے کښ چه هغوی ما ته کومه خبره کوله چه چونکه دا یو داسے خاص طریقه باندے جوړیږی او په خاص مشین جوړیږی ، په هغے باندے څه مطمئن شوے نه یمه چه دا څنګه طریقه داسے ده چه هغه صرف یوسړے جوړولے شی او ګنړ چه وی هغه نے نه شی جوړولے خو بحرحال د دے به کوشش کوو چه څومره کیدے شی ، اوس ډائریکټر نوے راغلے دے او هغه ته ما بیا دوه ځله د دے خبره کړیده او د دے به زرته زره غور اوکړو اودوی چه په دے کښ ما ته څه نور داسے تجاویز راکوی هغه به بالکل کوو۔

Mr. Speaker: Thank you. All the cut motions are lost being

withdrawn by the honourable Members. The question is:

"that a sum not exceeding rupees five million, six hundred and nine thousand only be granted to the Provincial Govenment to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Stamp Duties". Those who are in favour of it may say "Yes" and those against it may say "No".

(The motion was carried).

Mr. Speaker: "Ayes" have it. The demand is granted. The honourable Minister for Forestry, N.W.F.P., to please move his Demand No.4.

Mr. Fateh Muhammad Khan (Minister for Forestry): Mr. Spekaer sir, I beg to move:

"that a sum not exceeding rupees two hundred sixty million, seven hundred and thirty seven thousand only be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Forestry".

Mr. Speaker: The motion before the House is:

"that a sum not exceeding rupees two hundred sixty million, seven hundred and thirty seven thousand only be granted to the

Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Forestry". There are some cut motions on this Demand. Mr. Pir Muhammad Khan, MPA to please move his cut motion on Demand No.4.

جناب پیر محمد خان، جناب سپیکرصاحب! زه په ډیمانډ نمبر 4 کښې د پانچ هزار روپو کټ موشن پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees five thoussand only. Mr. Ahmad Hasan Khan, MPA to please move his cut motion on Demand No.4.

جناب احمد حسن خان، محترم سپیکرصاحب! میں مطالبہ زر نمبر 4 میں اس محکمے کی ناقص کارکردگی کی بنیاد پر ایک سو روپے کی کٹوتی کی تحریک پیش کرتا ہوں۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be rcduced by rupees one hundred only. Mr. Yousaf Tarand, MPA to please move his cut motion on Demand No.4.

حاجی محمد یوسف خان ترند، جناب سپیکر! د سلو روپو کټوتی پیش کوم ځکه چه د محکمے کارکردګی درست نه ده۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees one hundred only. Mr. Humayun Saifullah Khan, MPA to please move his cut motion on Demand No.4.

جناب ہمایون سیف اللہ خان، جناب سپیکر! میں ایک روپے کی کٹوتی کی تحریک پیش کرتا

ہوں۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupee one only. Mr. Pir Muhammad Khan, MPA please.

جناب نجم الدین، پوائنٹ آف آرڈر سر! سر په دے کښې تقریباً اووه کسان په کټ موشن کښې دی جی او تاسو د دوو کسانو نومونه واغستل او باقی پاتے شو۔ خما په نوم کښې څه غلطی راغلے وه۔

جناب سپیکر، Fourth number دے کنه۔ مسٹر حمید الله خان، ایم پی اے۔

جناب حمید اللہ خان، مهربانی سر! زه په څلورنمبر مطالبه زرکښې د سلو روپو کمتوتی پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees one hundred only. Nawabzada Mohsin Ali Khan, MPA please.

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Sir, I withdraw.

جناب سپیکر، مسترهمایون سیف الله خان خو اوشو جی بل څوک خو پاتے نه دے۔

جناب نجم الدین، سر بیا نجم الدین هم پاتے شو۔

جناب محمد اورنگزیب خان، جناب سپیکرصاحب! مونږ ته دا یو کاغذ پروت دے د اسمبلی سیکرټریټ د طرف نه جی، "مورخہ ۲۴ جون تا ۲۶ جون ۱۹۹۷ کے ایجنڈے کے ساتھ منسلکہ فہرست تخفیف زر میں مطالبہ نمبر ۴ کے تحت نمبر ۴ شمار کے سامنے جناب محمد یوسف خان ترند کی بجائے جناب نجم الدین صاحب پڑھا جائے " دا یو کاغذ مونږ ته په ډیسک باندے پروت وو جی۔

حاجی محمد یوسف خان ترند، دراصل جی خما نوم نے دوہ خله لیکلے وو۔غلطی په دے کښ دا شویده۔

جناب سپیکر، په دے کښ خو د نجم الدین نوم نشته ۔ یوسف ترند نوم پکښ لیکلے دے ۔دا خو دوانړه یوسف ترند دے جی نجم الدین خو ما سره نشته جی۔

حاجی محمد یوسف خان ترند، دا غلطی شویده جی خما نوم ئے ډبل لیکلے دے نو د دے وجے نه پکښ د نجم الدین نوم نه دے راغلے۔خما هغه یو نوم کټ کړنی نو د ده نوم به پکښ راشی جی۔

جناب سپیکر، نه جی ستاسو نوم دوه خایه کښ لیکلے شویدے هم په یو ډیمانډ باندے او د نجم الدین خان نوم په دے کښ نشته دے،چرته هم نشته۔

جناب احمد حسن خان، اسمبلی سیکرټریټ مسټر سپیکر سر نن یو کوریجنډم ایشو کړیدے چه دا دویم نمبر چه دے،نو دا نجم الدین خان دے۔

جناب نجم الدین، زه په ډیمانډ نمبر 4 د سوروپوکټوتی پیش کوم خکه چه د دے محکمے کارکردگی ټهیک نه ده۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees one hundred only. Mr. Pir Muhammad Khan, MPA please.

جناب پیر محمد خان، جناب سپیکر صاحب ! پنخه پنخه، شپږ شپږ محکمے یو یو وزیر سره دی، خما خیال دے هغه خو به ټول Withdraw شی، ---( قہقہے)--- اوکنه مونږ ته هم مشکل جوړشو۔ زه به مختصراً د تجاویز په شکل کښ به یو څو خبرے اوکړمه خکه چه د دے محکمے وزیر ، خمونږ

یقین دے چه دے ډیر قابل سړے دے او د ده کارکردګی به انشاء الله ښه وی خو دے فارسټ کښی سمګلنګ ډیر زیات دے په دے وجه باندے دا ځنګلات ډیر زیات تباه شو او خراب شو او اکثر په سمګلنګ کښی سټاف په خپله ملوث وی که چرے هغوی پکښی ملوث نه وے نو بیا به دومره سمګلنګ) نه کیدو او په کوم ځائے کښی چه پکښی سټاف نه وی ملوث او د قوم په لاس کښی وی نو هغه ځائے کښی ، لکه کالام شو نو په هغے کښی بیا څوک سمګلنګ نه شی کولے نو یا خو ترینه دا محکمه لرے کول غواړی چه قوم ته حواله شی، نو ځما خیال دے چه هله به ئے بچاو کیږی یا د دوی دغے طرف ته خصوصی توجه ورکړی چه دا فارسټ تباه کیږی ، چه د تباهی نه بچ شی دویم په دےکښی دا نرسری چه لګی نو جناب سپیکر صاحب د دوی نه زیات بوټی اوچ شی په کوم موسم چه لګول غواړی نو د هغے نه دوی لیټ شی هغے تیلو کښی ئے راوالی او د روډونو په غاړه ئے ځائے په ځائے کیږدی نو هغے ته اوبه هم اچول غواړی، اوبه ورته نه اچوی نو هغه په هغے تهیلو کښی اوچ شی نو که بیا ئے لګوی نو فائده ئے نه وی ځکه چه اوچ شوی وی - دغسے په لکهونو بوټی د دوی په فارمونو کښی هر کال راځی او په ریکارډ باندے خو په لکهونو بوټی وی خو په موقع باندے چه کوم ځائے ئے مقرر شوی وی نو هلته هغه په لکهونو بوټی اونه لګی او که اولګی نو اوچ بوټی وی او حفاظت ئے اونشی نو چه بل کال راشی نو په هغے ځائے کښی بیا لګوی نو که د دوی د لسو کالو زوړ ریکارډ اوکتلے شی نو هغه بوټی کوم چه دوی په لکهونو ،کروړونو حساب سره لګولی دی نو په هغے کښی به په زرګونو هم نه وی - بل پلانټیشن چه دوی کوی نو اکثر صرف د روډ په سائیډ سائیډ باندے ئے کوی

نو د روډ سائیډ سائیډ ته هم ټهیک ده یو ډول هم دے او فائده نے شته خو که د دے په خانے که دوی دے غرونو ته ځنګلاتو ته دا پلانټیشن ، چه کومو ځایونو کښ کټانی شوے ده یا کیږی په هغے کښ جاری اوساتی نو د هغے تحفظ او فائده به هم زیاته وی - او دے سره به زه یو بل تجویز دا ورکړم چه کوم پلانټیشن دوی کوی نو دا بوټی د د زمکو مالکانو ته حواله کړی او هغوی سره د د یو بوټی په حساب څه پیسے مقرر کړی لکه مثلاً ستا په پنځه روپے بوټی شو او تا له زه هزار بوټی درکوم د دے دومره پیسے شوے ته دا نال کړه بیا مخکښ کال به زه ستا بوټی چیک کوم چه دا هزار بوټی دی په دے هزارکښ چه ستا څومره کامیاب شوی دی نو د بوټی په حساب سره به تا له زه دومره انعام درکوم او چه کوم ستا فیل شوی دی نود هغے به چیکنګ کیږی د هغے به ستا نه پیسے کټ کیږی نو ځما خیال دے چه خلق به پکښ دلچسپی واخلی او په دے طریقه به ځنګلات زیات شی او دے سره سره به آخری خبره دا اوکړم چه د دنداسے ( د غوزانو دا جرړے ) سمګلنګ کیږی او ډیره قیمتی او نه ده ، فرنیچر د پاره هم او دے واه فیکټری کښ هم ډیر زیاته لګی نو هر کال د هغے هغه جرړے چه وی نو هغه د دے ځنګلاتو د محکمے ملی بهګت سره خلق اوباسی او هغے سره هغه اونے اوچے شی او خرابے شی بلکه بعض فارسټ والا خو وائی چه دے سره اونه نه اوچیږی هیڅ چل نه کیږی خو خرابیږی او Growth نے خو کم شی کمزورے شی کنه جی نو که دغے طرف ته توجه اوشی چه د دنداسے دا سمګلنګ ته منع کړی نو ډیر به مشکور یو -

جناب سپیکر : ستاسو مطلب دا دے که منسټر صاحب پکښ پرسنل انټرسټ

واخلی نو تاسو به Withdraw شئ۔

جناب پیر محمد خان ، او جی که دوی پکښ ذاتی دلچسپی واخلی نو زه به Withdraw کړم۔

**Mr. Speaker:** Mr. Ahmad Hassan Khan, MPA please.

جناب احمد حسن خان ، جناب سپیکر ! لکه څنګه چه تاسو په شروع کښ د رول حواله ورکړے وه او د دے حواهش اظهار مو کړے وو چه We should be well in time چه تاسو ته بیا ورستو مجبوراً قانون باندے د عمل درآمد په وجه باندے څه دا تاثر جوړنه شی چه د دے دغه بلډوزونګ کیږی خو په دے کښ به ستاسو په خدمت کښ زه داسے عرض اوکړم لکه مثلاً بعضمدونه دا سے دی چه د هغے ، مونږ پوائنټ آوټ کړل او بعض مدات چه کوم دی ، هغه د ډیر زیات اهمیت حامل دی نو مونږ به انشاء الله تعالیٰ ستاسو د دےحواهش د احترام په بنیاد باندے دغه کوشش کوو خو بعض سبجیکټس ، دا اولنے چه کوم وو نو هغه هم د دے صوبے د آمدن زیاتولو یو اهم محکمه وهخو زه دا وایم چه د فارسټ محکمه د دے صوبے د ټولو اهم ترینو محکمو کښ که وړته زه جناب سپیکر ، سرفهرست اووایم نوشاید انشاء الله تاسو اوخما ټول معزز رونړه به دے سره اتفاق اوکړی ۔ د جناب منسټر صاحب د نورو خو بیانو سره سره د هغوی یوکوالیفیکشن دا هم دے چه هغه د فارسټری ایریا اوسیدونکے دے لهذا خما په خپل خیال او بیا تر ډیره حده پورے د فارسټ مالک هم دے نو زه دا وایم چه کومے خامیانے خما په نوټس کښ دی او ستاسو په وساطت سره د ایوان یا د هغوی په نوټس کښ راوستل غواړم نو خما دا یقین دے چه هغوی د هغے نه زیات خبردے خو بحرحال زه بیا هم د یو زمه دار فرد په حیثیت سره خپلے زمه واری ادا کولو په سلسله کښ یو څو معروضات ستاسو په وساطت د هغوی په خدمت کښ وړاندے

کوم ه او خما دا یقین دے چه انشاء الله تعالیٰ هغه به په دے باندے خواه مخواه د عمل درامد کولو کوشش اوکړی - جناب سپیکر یو خو د فارسټ په مد کښ چه دوی کوم ټیکس زیات کړے وونو خما په خپل خیالدا په مالکانو باندے نور زیات بوجه دے اود دے نه به ډیر زیات تکالیف جوړیشی ځکه چه د سوچ کولو نه بغیر یو ټیکس زیاتول ډیره بده خبره ده ، په دے سلسله کښ به زه دا عرض اوکړمه چه د جنګلاتو متعلق که څه منصوبه بندی کیږے یا د ټیکسیشن په سلسله کښ څه پروپوزل وړاندے کیږی نود جناب منسټر صاحب په خدمت کښ ستاسو په وساطت خما دا عرض دے چه د فارسټری ایریازنه یعنی بالخصوص د ملاکنډ او هزارے ډویژن سره تعلق لرونکی ممبرانو سره دے مشوره خوامخواه کیږی هغوی په صورتحال باندے پوهه دی او خما په خپل خیال که دوی صرف د سرکاری مشورے ورکونکو خلقو په زریغه باندے یعنی د محکمے د اهلکارو په سفارشاتو باندے انحصارکوی جناب سپیکرنود هغویَ خپل پوائنټ آف ویو د هغے فارسټری ایریا د خلقو نه مخلتف کیدے شی - نن دایریګیشن ډیپارټمنټ به زه مثال ورکړم متعلق د بهرنه راخی او د سیندونو متعلق هغوی تجاویزوړاندے کوی خو خما په خپل خیال د خیالی سیند یا د پنچکوړا دریا یا د دریائے سوات متعلق چه د سوات د دیر او د چارسدے اوسیدونکی یا د پیښور اوسیدونکی د خپل عمر او تجربے په بنیاد باندے کوم تجویز وړاندے کولے شی هغه د بیرونی ایکسپرټ نه زیات بنه کیدے شیځکه چه دا صوتحال د هغوی په مخکښ تیرشوے وی لهٰذا د یو عام خنکل سره تعلق لرونکی دوست تجربه به زیاته اهم وی خما بل عرض دا دے جناب سپیکر ، د فارسټ یو شاهی فرمان د محکمے په سفارش باندے ایشو کیږی ، محکمه خو خپلے غلطیانے پټوی په محکمه کښ دننه چه د رشوت څه اندازدے د هغے خو ذکرنه کیږی هغه هغوی ته هم پته ده اومونږ ته

هم پته ده د هغے د لرے کولو د پاره چه هغوی څه کوی هغه خو نه ښائی خو په وزیرانو باندے په وزیراعلیٰ ګانو باندے یا په حکومتونو باندے د تجاویزونو په شکل کښې شاهی فرمانونه جاری کوی د هغے یو مثال دا دے لکه مثلاً د دریو خلونه مسلسل په جنګلاتو باندے د کټائی په سلسله کښې د پابندئ اعلان کیږی اوس چه دا اعلان اوشو چه کټائی بند نو څوک دا تپوس نه کوی چه د کټائی سره د نکاسئ څه طریقه کار دے۔ جناب سپیکر په دے جنګلاتو کښې د Wind fall دMatured اونو کومے چه Matured شوے وی د هغے د وهلو نن ضرورت دے که هغه اونه وهلے شی نو د هغے نه نورخنګل ته نقصان دے هغه که پخپل طبیعت باندے راپریوزی، یو بیماره اونه، یوه عمر رسیده اونه که په خپل طبعیت، د خپل طبعی مرګ په بنیاد باندے راولویږی جنابسپیکر نو هغه نورے خوانے اونے، نورے نوے پود چه کوم دے هغه خرابکړی۔ لهٰذا دا خبره چه دا د هغوی تجویز دے چه مونږ به دا بند کړو۔ نن څهتاسو ته دا خبره کومه چه په هزاره او په ملاکنډ ډویژن کښې د دے بندش په بنیاد باندے مزدورکار او ټهیکداران د فاقه کشی شکارشوی دی او هغه بل کالے جناب سپیکر په لاهوری او په کوهستان په ایریا کښې څه ډاکے اوشوےنو چه د هغے پس منظر مونږ اوکتو نو دغه خنګلو کښې مزدورکارانو ته د رزق د پاره د آمدن کومه ذریعه وه نو هغه پرے بنده شوے وه نو هغوی بیا پهدے باندے مجبور وو چه ډاکے ئے کولے ۔ لهٰذا خما جناب منسټرصاحب ته دا درخواست دے چه دوی په دے باندے پوهه دی، د د ے پالیسی د Reviewاوکړی ۔ او زه دا نه وایم څه وایم خنګل د ماحولیاتو په بنیاد باندے او خنګلد دے ملک د پاره ،خنګل د دے صوبے د پاره ،او الحمدلله شکردا دے چه د خنګل د هیڅ قسم معاملے سره خما هیڅ قسم تعلق نشته دے خو د دے صوبےد بهترئی د پاره، د عوامو د رزق د کماوولو د پاره اود بهترین منصوبه

بندنید پاره خما د منسټر صاحب په خدمت کښې دا درخواست دے او I think اچه په
دے صورتحال کښې He is the best person چه هغه په دے باندے پوهیږی چه
هغوی دے په دے باندے غور اوکړی او د هغے حده پورے د اجازت ورکړی چه کوم
جائز دے۔ جناب سپیکر ، اوس هم تاسو ته زه دا وایم چه د دے پابندی باوجود منسټر
صاحب ته دا پته ده نن د د مټے بازار اونه اوګوری ، نن دے دیر بازار اوګوری نن د د
واړی بازار اوګوری، جهانزیب خان او بهادرخان ماما دلته ناست دی ، نن جندول
اوګوری نن هم هلته کښې لرګی ملاویږی او خرڅیږی او دغه کیږی، خلق ئے بیا هم
کټ کوی لهذا د دے ناجائز پابندی څه نقصان دے؟ د دے دا نقصان دے چه یو مالک ته د
خپل ځنګل صحیح حصه هم ملاو نه شوه نمبر دو دا کچرے جائز اجازت وے نو د
هغے په بنیاد باندے که مالک ته صحیح حصه ملاویده نو ګورنمنټ ته به هم خپله
حصه ملاویده ، ګورنمنټ ته خپله حصه نه ملاویږی مالک ته جائز قیمت نه
ملاویږی او کټائی نن هم کیږی د بازو په شکل کښې د برګے په شکل کښې کچه کچه
نوے پود خلق کټ کوی او که د دے نه څوک انکار کوی نو د جناب منسټر صاحب
مخکښې د محکمے د هر افسر سره بحث کولو ته او ثابت کولو ته تیار یم خو مونږ
څوک په اعتماد کښې نه اخلی بیشک ما د نه اخلی خو د جنګلاتو د علاقے نه دے خما یو
بل رور په اعتماد کښې واخلی چه هغه په دے خبره باندے پوهیږی ۔ جناب سپیکر ،
یو ډیره زیاته قابل افسوس خبره دا ده چه سوشل فارسټری چه کوم پراجیکټ دے دا
ډیر لوئے دی ښه پراجیکټ دے اهم پراجیکټ دے خو چه کوم فارسټری ایریا ده
چرته چه کټائی کیږی هلته د دے ایکسټینشن نشته ولے نشته ؟ هلته کښې خود
بخود کیږی ، د دے هلته کښې ضرورت دے جناب سپیکر ، د دے هلته کښې
ایکسټینشن اوشی زه په دے خبره د حکومت او جناب منسټر صاحب شکریه ادا

کوم چه دا یو خطره وه د سوشل فارسټری ډیپارټمنټ د ملازمینو په زړونوکښې او زمونږ د جنګلی علاقو سره تعلق لرونکی دوستانو په زړونوکښې دا خطره وه چه دا پراجیکټ ختمیدونکے دے، اوس ورله دوی په دے بجټ کښې چار ملین روپے ایخودے دی خو خما درخواست دے چه دا دے فارسټری ایریا ته Extend کړی او په ملازمینو کښې چه کومه خدشه ده خکه چه هغوی ته دا نوټسے ملاؤ شوے وے که چرے د 30 جون نه پس داProject continue پاتے نه شو نو ستاسو سروسز به Terminated تصور کیږی چونکه نا خو اوس اوشوه نو نن دے جناب منسټر صاحب خپلے محکمے ته دا هدایت اوکړی چه دوی کومه مهربانی کړے ده کوم Extension کړے دے د هغے Extension په بنیاد باندے د هغے ملازمینو Service continue دے لهذا د ټرمینشن هغه آرډر د Withdraw کړی خکه جناب سپیکر، چه هغوی کښې ډیر سخت تشویش دے ، د دے تشویش لرے کولو د پاره د دوی آرډر اوکړی د خپلو دے تجاویزو سره سره زه د خپل کټ موشن د واپسے درخواست کوم جناب سپیکر۔

**Mr. Speaker:** Mr. Najmuddin Khan, MPA please.

جناب نجم الدین ، جناب سپیکر ! کوم کټوتی تحریک چه ما پیش کړے دے جی زه د داسے علاقے سره تعلق لرمه جی چه په هغے کښې فارسټ ایریا ده ، خما نه مخکښې احمد حسن خان اوونیل زه به ستاسو نه یو دوه درے منټه زیات غوارمه زه د هغے علاقے سره تعلق لرم ۔ اول خو دا ده جی چه په خنګلات باندے کومه پابندی لګیدلے ده د حکومت د ا پروګرام وو چه د دے خنګلاتو د پابندی سره به په هغے علاقه د خنګلاتو په مد کښې به نقصانات نه کیږے ، خو

زه په دے خبره افسوس کومه جی د ځنګلاتو محکمے د هغوی د پروګرام لاندے جی چه څومره به نور کله د مارکنګ لسټ مطابق یا د حکومت د یو طریقه کار مطابق ځنګلات راوتل نن زه د دے اسمبلی په فلور باندے وایمه جی چه تقریباً د هغے دس پرسنټ زیات د سمګلنګ په طریقه باندے د دیر او سوات د ځنګلاتو نه په وسیع پیمانه باندے لرګے راروان دے ځکه چه جی د خلقو هغه مزدوری بنده شوے ده ، هغوی په مختلفو طریقو باندے دغه کوی نو خما د ټولو نه مخکښ جی دا ډیمانډ دے چه کم از کم د دے ځنګلاتو د آذادی د پاره دے دوی څه طریقه کار جوړ کړی د دے سره جی د خلقو روزګار شامل دے ورسره د خلقو رائلټی شامله ده نو دا یو ټکی دے ۔ دویم دا دے جی چه دے محکمے کښ کوم طریقه کار کیږی جی ، ځه تاسو ته یو مثال وایمه جی حیاګی نومی یو کلے دے په هغے کښ د Wind fall په نوم باندے تقریباً دولس لکهه فټه لرګے مارک شوے دے د هغے د پاره د فارسټ یو پارټی جوړه شوے وه بیا د هغے د انسپکشن د پاره کنزرویټر آف فارسټ او ورسره ډی ایف او آف فارسټ مقرر شوی وو هلته مارکنګ هم اوشو ده خو پکښ خپل انسپکشن هم اوخودلو جی او چیف کنزرویټر چه کوم دے د هغے منظوری ورکړه لیکن بیا چه کله د یوے محکمے نه دوی مارکنګ اوکړو نو بیا ئے ایف ډی سی ته حواله کړو دوی اوونیل چه او دا مارکنګ شته، ډی سی اوونیل چه او مارکنګ شته مونږه حواله کړو لیکن بیا هغه محکمه وائی چه مونږ انکوائری کوو او دغه مارکنګ نشته دے بیا انکوائری کیږی جی انکوائری کیږی د دے بره نه راځی او صرف په یو فارسټ ګارډ باندے دا تین کیږی او وائی چه کوم فارسټ ګارډ دے مونږ د هغه پروموشن

بند کړو ، زه صرف دا درخواست کوم جی چه په دے بعضو خبرو کښ تاسو دومره قدرته کښ اوکړی چه دا کوم Wind fall مارک شوے دے دا په دغه وخت کښ د پالیسئی تحت ووکه نه وو او دا کوم افسر کړے دے او چه کړے ئے دے په دغے کښ چه کوم دے مارکنګ کړے دے دا ولے واپس شوے دے او د دے انکوائری چه شوے ده په دے کښ کومو افسرانو ته کومه سزا ملاؤ شوے ده ؟ او د دے انکوائری مطابق زه وایمه جی که فارسټ ډیپارټمنټ ته دا انکوائری حواله کیږی نو هغه به هم بیا راخی او په دغے فارسټ ګارډ غریب باندے به ئے تین کوی او پخپله ترینه خان اوباسی خما منسټر صاحب ته دا درخواست دے چه دوی د دے صوباتی اسمبلی د ممبرانو په تهرو باندے یو کمټی جوړه کړی او د دغے انکوائری دے اوکړی ، هغه بله ورځ تاسو په اخبارکښ لیدلی دی چه په چترال کښ د دوه ارب روپو سمګلنګ )شوے دے د دوه ارب روپو لرګے راوتے دے ،د سوات د بشام ، (کوهستان) نه د اتو زرو فټو یوه ټی پی ایشو کیږی او په هغے باندے جی چوده هزار فټ اوخی بیا د شپږ زره فټو ټی پی ایشو کیږی او په هغے باندے بیس هزار فټ اوخی نو خما دا درخواست دے جی ،خلق وانی جی زه دا وایم جی چه د دے محکمے رانبکل پکار دی او د دوی نه تپوس کول پکار دے او د دے صوبانی اسمبلئی د ممبرانو په تهرو پکار دے چه دوی لاړ شی او سپاټ باندے هلته تحقیقات اوکړی ډیر خلق وانی مونږ دیانت دار یو جی ، ایماندار یو لیکن چه کله د پیسے خبره راخی نو صاحب د تحفو تحائف په طریقه باندے هغوی خپلے پیسے اخلی وانی دا چه د فلانکی خونی ته تحفه ملاؤ شوه او د فلانکی دغه ته ملاؤ شوه ، خما صرف تاسو ته

درخواست دے ، چیف منسٹر صاحب تہ، چہ پہ دے کښی د د صوبائی اسمبلئی د ممبرانو پہ ذریعہ باندے یو انکوائری ٹیم مقرر کړے شی او پہ دغہ خایونو کښی دِ د دے بعضو مسئلو دِ معلومات اوشی جی دویم جی سوشل، دا واٹر شیډ محکمہ چہ کومہ وہ ھغے پہ دیر کښی د ډیرے مودے نہ کار کولو دیر جنگلات پہ دیر کښی شوے دی د ھغے نہ بوټی نال شوے دی لیکن نن ھغہ واٹر شیډ محکمہ پہ چترال کښی خو شتہ جی پہ سوات کښی شتہ لیکن د دیر نہ ھغہ لرے کړے شوے دہ ۔ خما منسٹر صاحب تا دا درخواست دے چہ دغلتہ د Extension ورکړے شی اوس مونږ جی دا ھم اوریدلی دی جی چہ سوشل فارسټری چہ کوم ھغے کښی ھغوی Plantation کوؤ د ھغہ سوشل فارسټری ختمولو کوشش کیږی۔ د ھغے سرہ جی د دنیا ملازمین ختمیږی او ورسرہ د سوشل فارسټری چہ ھلتہ کومہ کارکردگی وہ جی، ھغوی تقریباً د محلورو او د پنځو کالو نہ بوټی نال کړی دی لیکن نن کہ ھغہ ختمہ کړے شی نو د ھغے سرہ جی د خلقو ھغہ کم چہ نال شوی بوټی دی د ھغے د حفا ظت بندوبست بہ ورک کړے شی خما دا ھم درخواست دے چہ سوشل فارسټری لہ دے Extension ورکړے شی زہ دا ھم وایم چہ دوی چہ کوم بوټی نال کړی د ھغے نہ روستو د حفاظت څہ بندوبست نہ کیږی خمونږ علاقہ د ځنګلاتو سرہ تعلق لری زہ دا درخواست کوم چہ پہ دغہ طریقہ دوی د دغہ ځنګلاتو د تحفظ د پارہ دایوان کمیټی جوړہ کړی چہ پہ دے باندے خبرہ اوشی زہ د دے سرہ جی پہ دے خپل کټ موشن باندے زور نہ ورکوم او دا مے درخواست دے چہ دوی پہ دے باندے عمل درآمد اوکړی۔ ډیرہ مہربانی۔

جناب سپیکر، جناب یوسف خان ترند، ایم۔ پی۔ اے صاحب۔

حاجی محمد یوسف خان : جناب سپیکر! ځما نه مخښکے احمد حسن خان او نجم الدین خان دواړو ډیره تفصیلی خبره اوکړه، د ډهراوولو ضرورتنشته جی زه خو دا عرض کومه چه حقیقت دا دے چه ځنګلات اګرچه دا په هزاره ډویژن او په ملاکنډ ډویژن کښ دی خو د دے تعلق نه صرف صوبه سرحد سره دے بلکه د ټول پاکستان سره دے جی۔ د افسوس خبره خو دا ده چه دا ډیر اهم شے چه کوم دے لکه څنګه چه احمد حسن خان اووئیل چه خمونږ معین قریشی صاحب یو اعلان اوکړو چه په ځنګلو باندے پابندی اولګونی نو دا سوچ ئے اونکړو چه دا پابندی مونږ اولګوؤ دا مونږ په څه لیول اولګوؤ او ددے به فائدے څومره وی او د دے به نقصان څومره وی ؟ هغه شے راروان دے، زه ستاسو په وساطت باندے چیف منسټر صاحب ته دا عرض کومه چه ځنګلات دوه قسمه دی ۔ یو سرکاری ملکیت دے او یو د خلقو ذاتی ملکیت دے۔ د هغے مثال دغه شان دے لکه ستاسو په ایریا کښ ګنے تاسو کرنی، چقندر تاسو کرنی نودغه حساب خمونږ د خلقو په هزاره ډویژن کښ او په ملا کنډ ډویژن کښ د ځنګلو د ملکیت دے او خمونږ داسے ایریا هم شته چه د خلقو سل پرسنټ ګزاره صرف او صرف په ځنګل باندے ده۔ اوس مونږ دے سره پوره اتفاق کوؤ چه ځنګلات د ملک دپاره ډیر ضروری دی خو هغه پابندی لګول پکار ده او هغه څیز کښ سختی ورکول پکار دی چه د هغے نه نقصان اونشی خو هغه پابندی نه دی لګول پکار چه کوم نه د فائدے په ځائے نقصان اوشی خبره هغوی تفصیلی کړے ده دا چه په دے پابندو باندے دوه خبرے راغلے، یو هغه چه کوم باندے صوبے حکومت

د ته بل طرف او شو ضائع هغه ،وو به کرورونو په او راتلو تیکس ته

ته هم نه مونږ حق جائز هغه ،دے خمونږ ملکیت ،دے خمونږ خنګل

Matured اونه ده یا هغه اوچه

ده، نو په هغه وجه شوے بند کټائی هم هغے د ده شوے ارتاو هغه یا ده شوے

دا کښ سلسله دے په به خما .کړے کټ یے خنګلے او اوکړه شروع خلقو

د که نه جاپان د چه دی اوریدلی ما چه ،لندومه خبره جی ،وی تجویز

کښ دے .وی جوړه پالسی له مونږ هغه او دے راغوښتے نے ټیم یو جرمن

پاکستان د او معاشره خانے هغه د خو دی خلق قابل هغه چه نیشته شک هیڅ

هم زه اوونیل خان حسن احمد چه ځنګه ده دا پکار ،دے فرق کښ معاشره

ډویژن ملاکنډ د او ممبران ډویژن هزارے د چه کومه اتفاق سره تجویز دے

پارټئ خپلے د خو کینئی نه پکښ د مونږ ،کینوی نه پکښ مونږ که ،ممبران

کومه په خنګلو د چه اوکړی مشوره صلاح دِ سره دوی او کینوی د ممبران

کټ دا به سره طریقے بهترین کومه په او کیږی حفاظت سره طریقے بهترین

د ،پاره د اونو اوچو د دا کښ دے په چه جی دے ګزارش دا خما نو .کیږی

پښه هم باندے هغے ،وه شوے جوړه پالیسی یو پاره د اونو شوؤ ارتاؤ

په ستاسو نو .اورسی نقصان ته خنګل هم به نه دے د ،ده شوے ایښودے

فوری باندے دے په چه دے ګزارش دا ته صاحب منسټر خما باندے وساطت

، ډویژن ملاکنډ د او ډویژن هزاره د ،ممبرانو خپلو دے د سره طور

مطابق صلاح د هغوی د او واخلی صلاح د نه دوی اوغواړی را د ( میټنګ

دا او اوشی افزائی حوصله مالکانو د ته طرف یو چه کړی وضع پالیسی یو د

خبره ستاسو په وساطت د دوی په نوټس کښ راولمه چه هيڅ کله د ځنګلو سټاف د ځنګلو تحفظ نشی کولے تر هغه وخته پورے چه څو پورے ورسره د مالکانو او د مقامی خلقو تعاون نه وی او د هغوی تعاون هله کيدے شی چه هغوی په دے څيز کښ شريک کړی خان سره او هغوی په اعتماد کښ واخلی۔ د دے نه علاوه په واټر شيډ باندے خبره اوشوه جی۔ واټر شيډ يو ډيره اهم محکمه ده او هغوی ډير ښه کار کردګی کړے ده او حقيقت دا دے لکه څنګه چه ځما د دير رونړو اوونيل نو دغسے په هزاره ډويژن کښ هم د هغوی ښه کارکردګی ده۔ هغه يو طرف ته د بوټو چه کوم Plantation کوی او د هغے نه چه کومے ځنګلے نوے راپيده شوے په نوے علاقو کښ، په نوے ايريا کښ نو ستاسو په وساطت باندے زه منسټر صاحب ته دا ګزارش کوم چه د هغے د فعال کولو د پاره د نور فنډز ) اوکړی او هغے ته د نوره توجو ورکړی جی۔ مهربانی۔

<u>جناب سپیکر،</u> Otherwise تاسو Withdraw کړو خپل کټ موشن۔ تهينک يو۔ مسټر حميد الله خان، ايم۔پی۔اے، پليز۔

<u>جناب حمید اللہ خان،</u> شکريه جناب سپيکر۔ ځما دے مشرانو خبرے اوکړے او زه دوباره دهراوول د دے نه غوارم په دے وجه باندے زه خپل موشن واپس اخلم۔

<u>جناب سپیکر،</u> تهينک يو۔ نوابزاده محسن علی خان صاحب خو خپل Withdraw کړے دے جی۔ هاں، مسټر همايون سيف الله خان، ايم۔پی۔ اے۔

<u>جناب ہمایون سیف اللہ خان:</u> جناب سپیکر صاحب! میں اتنا عرض کرونگا جی کہ ہمارے لکی ڈسٹرکٹ کے لئے ایک On-going scheme تھی اور اس کے لئے، ٹوٹل سکیم جو

ہے وہ سات ملین کی ہے' اس سال انہوں نے ایک لاکھ روپے رکھے ہیں۔ یہ ماڈل نرسری ہے اور اب لوگوں کا بہت شوق ہے درخت لگانے کا اور Awareness پیدا ہوئی ہے Environment کے متعلق لوگوں میں تو میری یہ ریکویسٹ ہوگی منسٹر صاحب سے کہ اس میں کچھ پیسے زیادہ کریں بجائے اس کے کہ وہ سکیم پانچ سال یا سات سال میں بنے' اگر وہ ایک یا دو سال میں بن جائے تو لوگوں کو اس سے بہت فائدہ ہو گا اور اس کے ساتھ ہی میں اپنی کٹ موشن واپس لیتا ہوں۔

**Mr. Speaker:** The honourable Minister for Forest, please.

جناب فتح محمد خان (وزیر جنگلات)، شکریه سپیکر صاحب! اول خو زه د دوی د دے خبرے سره، یو ذاتی رائے وی، دے کښی دوه خبرے دی یو ذاتی د سړی Opinion وی یا خیال وی یا رائے وی او یو بیا د حکومت په لیول باندے د ملګرو او د ټولو په شریکه باندے رائے وی۔ ذاتی طور باندے د دے یوے خبرے سره زه بالکل اتفاق کوم چه خنګل په مکمل بندیز باندے خنګل بچ کیدے نه شی۔ یو خو دا ده چه اونے زړے شوے وی، هغه ولاړے وی، بیکاره وی، د هغے کټ کول ضروری وی۔ سیلئی کښ ډیرے راپریوزی، طوفان سره پکښ ډیرے زیاتے را پریوزی، هغه پرتے وی۔ د هغے ډیر زیات ضروری وی---------(قطع کلامی)

جناب سپیکر، معافی غواړم د هغوی مطلب صرف دا دے چی که یو جنرل رول تاسو Lay کوئ کنه جی نو په هغے کښ Exceptions هم ساتنی۔ نو د هغوی صرف دا Suggestion دے، تاسو پخپله ګورنمنټ یئ که تاسو دا شے اوچت کړنی چه جنرل رول سره څه Exceptions کیږدئی نو په دے به It will satisfy them.

<u>وزیرجنگلات،</u> دے سره Exceptions خو نه دے پکار جی دا یوه عامه مسئله ده۔ د دے ټولے صوبے مسئله ده که مونږ پکښې یو ځائے ته Exceptions ورکړو نو هغه خو ---

<u>جناب سپیکر،</u> خما مطلب باندے پوهه نه شونې، Exceptions دا مطلب دے که تاسو اووایئ چه کټائی بند ده خو Exceptions دا دی که په سپاټ باندے اوکتے شی چه یوه اونه پخپله راغورځیدونکی ده لکه څنګه چه د ممبرانو صاحبانو -----

<u>وزیر جنگلات،</u> دا خو Scientific cutting په ټولے دنیا کښې جاری دے جی ---

<u>جناب سپیکر،</u> هاں جی، هغه Exception دے بل نه دے ---

<u>وزیر جنګلات،</u> ټوله دنیا کښې دCutting یو طریقه ده ۔ د هغے دا طریقه ده جی چه هغه ګوری چه یوه اونه زړه شوے وی یا عمر د هغے پوره شوے وی یا یوه اونه داسے وی چه د هغے لاندے لس ، شل اونے ولاړے وی، بچی ولاړ وی او د هغے یوے اونے د کټائی سره د هغه لسو شلو بوټو وده کیږی جی زیاتیږی یا نور غیر ضروری داسے اونے ولاړے وی چه څلور شپږ جی ، یا د هغه شپږو په وجه باندے شپږ واړه عمل نه کوی د هغے نه یوه اونه دوه اوویستے شی نو دا خو په ټوله دنیا کښې کټائی کیږی جی او کټائی پکار ده خو البته دا جدا خبره ده چه هغه کټائی دِ صحیح کیږی او صحیح مارکنګ دِ کیږی او بیا دِ کټائی هم صحیح کیږی ، هغه د بد قسمتئی نه خمونږ دے ملک کښې چونکه دا ټول شے که سرے فریاد کوی ، نو هغه به هر یو وائی چه دا خو تش فریاد دے لکه دوی هم فریاد کوی زه به ورسره هم کوم خو خبره دا ده جی د بدقسمتئ نه چه اول چه کوم فارسټ هغه ټهیکیداری

کښې چه دوی پکښې په هغه وخت کښې مستقل کار اوکړی نو که دا اوس په دے جون کښې ورله ورکوی نو د هغے هیڅ فائده نه وی یو خوخرد برد شی او بیا اوس دا سیلابونه ، هسے هم د اوبو هغه لیول اوچت شوے وی نو هغه مقصد نه حاصلیږی ۔دا پهاړ پور هغه ایریګیشن سکیم وو، په هغے کښې مونږ ته اطلاع دا وه چه ډیرے زیاتے روپئی، په کروړونو روپئی پکښې اخوا دیخوا شویدی نو هغه خما یقین دے چه بلورصاحب او د هغے علاقے ایم پی ایز او دوی په دغے کښې پخپله ټول دلچسپی واخلی او دا پیسه خمونږ د دے صوبے پیسه ده نومونږ وایو چه دا خرابه نه شی۔مونږه چه دا کټ موشن پیش کړیدی نوبلورصاحب لږ مخکښې اووانیل چه دا خو پکار ده چه تاسو نورے پیسے ما له اوغوارئی،دا مونږ د محکمے په دے بیکارئی او ناقصه کارکردګئی باندے چه د دوی کارکردګی ټهیک نه ده که کارکردګی ئے ټهیک وے نو یقیناً چه مونږ به ورله پیسے زیاتولے بیا یو موشن به پیش کوو چه دا پیسے ورته زیاتے کړنی نو چه کارکردګی ئے بیکاره ده۔ خومره پیسه چه ورکوو هغه هم خرد برد کیږی نوخکه مونږ وایو چه هډو ورله مه ورکونی۔ کارخو په دے دوی هسے هم نه کوی، چه نه کوی نو هډو دے ورله پیسے نه ملاویږی۔ شکریه جناب سپیکرصاحب۔

جناب سپیکر: جناب احمدحسن خان، ایم پی اے، پلیز۔

جناب احمدحسن خان: جناب سپیکرصاحب ما چه د مطالبه زر نمبر 8 تحت کوم د خیالاتو اظهار کړے وو نو کم و بیش، هغه خما مقصد هم دا وو، لکه څنګه چه تاسو په شروع کښې اووئیل چه مونږه هغه خپل Message convey کړو۔ دوی ته او خما هم هغه معروضات دی چه کوم ما مخکښې کړی وو او د

دے خبرے سرہ اتفاق کوم لکہ څنګه چه پیرمحمد خان صاحب اووئیل چه د دے کمیټۍ تحریک پیش کولو بنیاد د دے محکمے د کم اهلیت باندے د اعتراض یوعکاسی کوی۔ خمونږ د جذباتو، نو که چرے دوی کارکردګی ښه کړه نومونږ به بیا دا درخواست هم اوکړو حکومت ته چه ډیرے نے کړنی ورته۔

جناب سپیکر: جناب غنی الرحمان خان، ایم پی اے، پلیز۔

جناب غنی الرحمان: جناب سپیکر! پیرمحمد خان د نهرونو خبره او کړه، هغه خوښما نه هټ کر پکار وه۔ بحرحال مونږ چونکه مخکښ عرض اوکړو چه خمونږ د کمیټۍ مطلب دا دے چه د محکمے ناقصه کارکردګی د منسټرصاحب په نوټس کښ راولو او چه د هغے څه ازاله اوشی ۔ دے سلسله کښ زه به دا اووایم چه دا ډیمانډ نمبر 8 کښ چه کوم فنډ اوغوښتلے شی نو هغه د ټیوب ویلونو او د چینلو په نوم وی، داسے د مختلف سکیمونو په نوم وی ،خو هغے کښ د محکمے کمیشن هم وی او دا ډیمانډ نمبر 9 والا چه دے په دے کښ کمیشن بلکه دا ټول خرد برد وی۔اکثر دےپورے دا هم شویدی چه زه نے د منسټرصاحب په نوټس کښ راولم چه ډیمانډ نمبر 8 نه پیسے نمبر 9 ته شفټ شویدی او هغه پیسے په ډی آئیخان کښ فلډ سیکټر کښ لګی، شروع دی، منسټرصاحب پخپله هم د هغه ځائے دوره کړیده او دوی خپله هم مطلب دا دے چه هغه شے نے کتلے دے چه Forty percent below کښ چه کله ټینډرے اوشی نو هغه به څه کار وی۔ هغه خوصرف اوبو ته کانړی اچول دی، د دے خبرے نه خما مقصد دا دے چه 1992 Flood fighting کښ نوکرورروپئ محکمے خردبرد کړے وے، اوس دا سیلابونه لا

نه دی راغلی، داسے نه چه Flood fighting کښ بیا هغه تحریک د هر اقوشی نو دا صرف د منسټرصاحب په نوټس کښ راولم چه د دوی په Knowledge کښ وی ، نگرانی ئے اوکړی د محکمے کارکردگی ښه نه ده خو په منسټر صاحب باندے خمونږ پوره اعتماد دے او دوی به انشاء الله پوره پوره کنټرول اوکړی او زه خپله کټوتی Withdraw کوم۔

جناب سپیکر۔ نوابزادہ محسن علی خان، ایم پی اے، پلیز۔ زه وایم چه ټول یو شانتے وو نو هم هغه خبرے به وی پکښ څه نوے شے خو به پکښ نه وی۔

نوابزادہ محسن علی خان: .Sir, I just want to یو Figure تاسو ته پوائنټ آوټ کوم۔

جناب سپیکر: اصلی کښ خمونږ زیات ټائم زمونږ منسټران صاحبان اخلی، تاسو دیر نه اخلئی۔

نوابزادہ محسن علی خان: .I will make it as short as possible sir میں وزیر صاحب کی توجہ ,Page-139 of the Demands for Grants, Volume-3 سر، Part-D, I would like to draw his attention to this. ابھی آپ نے Former Minister for Irrigation کے Comments سنے ہیں۔ انہوں نے جو کچھ فرمایا ہے Just to add on to what he has just said. Sir if you see, where it says total irrigation, the repair works and maintenance for drains, bunds, sub-surface drains of Chashma, sub-surface drains of Chashma, surface drains of Mardan Surface drains of 'Scarp. Now sir, میرا تو یہ خیال تھا کہ کم سے کم Chashma جو ہے کیونکہ چشمہ رائٹ بنک کنال بنا ہے تو اس کے لئے Surface

-

Two amounts were provided to Mardan - انتہائی ضروری ہیں drains

But sir, what is actually وہ بھی انتہائی ضروری ہیں Scarp, again

happening? Sir, again if you look at the bedget estimates of

1996-97, the amount provided for repairs of bunds were sixty

five million and this amount was in revised budget from sixty

five million it was increased to 80.925 million. Whereas if

you look at surface drains, for reference are the Chashma and

Mardan Scarp,eleven million, twelve million and ten million,

these were the allocations plus-minus two thousand. What is

the release amount sir? Against eleven million,three million

were released, agaist twelve million, five million were

released,against ten million, two million were released

وزیر صاحب سے میری یہ گزارش ہے کہ against Mardan Scarp. Sir,

That surely the surface drains where billions of rupees have

been spent, billions of rupees have been spent on Mardan

If the Finance and the Irrigation میں تو یہ سمجھتا ہوں سر کہ Scarp.

Departments have a certain budgetary figures where they, if

Reduce وہ کو Amount تو اس feel, that surface drains are required.

ecuse it's a surface drain, it's clearly visible and B کردیتے ہیں

where sixty five million are provided in the budget estimates,

they take it in a revised estimates to eighty five million,

where it is invisible expenditure. My humble request to the honourable Minister would be کہ کم سے کم For the future یعنی اب جو کچھ ہوگیا ہے وہ تو ہوگیا ہے، آئندہ کے لئے وہ یہ مہربانی کریں That he should ensure that the control is maintained and the balance is stilted the other way.

جناب بشیر احمد بلور (وزیر آبپاشی)، جناب سپیکر صاحب ! ستاسو په وساطت دا عرض کوم چه خما رونړو دا خبره اوکړه، غنی الرحمن خان هم چه ټینډرز کښ او ټهیکو کښ ډیرے زیاتے ګهپلے دی۔ زه ډوی سره په دے خبره Agree کوم او زه په خپله ډی آئی خان ته تلے وومه نو یوه دا سے ټهیکه کښ Forty percent below ، نو ما هلته هغوی ته اوونیل چه Forty percent below ډوی ټهیکه اخلی، خواه مخواه رشوت خو په خپل ځائے دےږولے چه مونږ خو اوس ټهیکه ورکړے ده، انشاء اللّٰه کوشش به کوو چه، خو داسے زر خو ختمولے خو څوک نشی نو ما ونیل چه کم از کم وی نو داFifteen percent ده د رشوت به هم وی 55% شو 5% به ډوی ټیکس ورکوی 60% شو 20% به هغه پخپله ګټی 80% شو نو په دے 20% باندے به دے څه جوړوی نو په دے وجه باندے ما دے هاؤس ته مخکښ هم عرض اوکړو چه په دے وجه باندے ما هلته کمشنر، ډپټی کمشنر او ایم پی اے صاحبان Involve کړل او دا چه کوم کانړی به هغه غورزوی هلته Spur کښ نو هلته مو هغه له کانړی په شمار باندے ورکړی دی، هلته اته لکهه کانړیپراته دی چه هغه څومره کانړی به خرچ کوی هغے حساب کتاب سره به هغوی ته پیسے ورکوو او انشاء اللّٰه بیا به یو ټهیکدار هم دومره جرات

نشی کولے چه Forty percent below به اخلی، ولے خکه چه مخکښ خلقو سره به د هغوی لین دین وو او د خدائے فضل سره دے حکومت کښ به داسے نه وی ، بل خما رور خبره اوکړه چه د نهرونو صفائی کښ پیسے نه لګی او پیسے ضائع شی۔ زه خپل دے رونړو ته دا درخواست کوم چه د هر چا په علاقه کښ چرته نهر دے نو کله چه د نهرونو صفائی شروع شی نو هر یو ایم پی اے ته به خما د طرف نه دا خواست وی چه هغوی پخپله هلته موقع باندے اودریږی او پخپله پرے کار اوکړی خو شرط دا دے څنګه چه محسن علی خان هم اوونیل چه بجټ ډیمانډ کښ کومے پیسے دی هغه پیسے پوره ملاو شی ولے چه Last year هم مونږ ته تقریباً 20% پیسے ریلیز شوی دی ، Figures نے تاسو ته اوښودلو چه دا پیسے پوره ملاو شوے نو انشاء الله کله به هم دا تکلیف نه وی او د ایم پی اے وساطت او د دوی په نګرانئ کښ به دا نهرونه صفا کوو او زه خواست کوم چه دوی دِ خپل کټ موشنز واپس واخلی۔

جناب سپیکر: پیر محمد خان یو تپوس کړے وو د اوچ نهر ، د هغے له جواب ورکړئ۔

وزیر آبپاشی: سپیکر صاحب ! هغه atisfied S دے نو تاسو له پکارنه دی چه تاسو نے بیا پوائنټ آوټ کوئ۔

جناب پیر محمد خان: ما خو ونیل چه دے به جواب راکړی جواب خو ما غوښتلے ووکنه۔

جناب سپیکر: جواب ورله ورکړئ کنه۔

وزیر آبپاشی: اوچ نهر چه دے هغه داسے دے چه هغے کښ مونږ پوره اوبه نه

شو ورکولے نو هغے ته د علاقے خلقو اوچ نهر نوم ایخے دے۔ زمونږ د طرف نه، د ډیپارټمنټ د طرف نه دا اوچ نهر نه دے ۔ هلته په دے وجه پوره اوبه نشی راتلے خکه چه لاره کښ خلق دومره زیاتے ناکے جوړے کړے دی او د شپږ انچو په ځانے د دولس انچو ناکه ئے جوړه کړے ده نو Tail ته اوبه نه رسی نو په دے وجه باندے هغے ته د علاقے خلقو اوچ نهر نوم ایخے دے او مونږ کوشش کوو لگیا یو ---(قطع کلامی)----

جناب پیر محمد خان، نه اوبه پکښ شته دے؟ خما مقصد سپیکر صاحب دا دے چه آیا په دے کښ اوبه شته دے او که نه؟

وزیر آبپاشی، جناب زه چه خپله خبره ختمه کړم نو دوی دِ بیا خبره اوکړی - په دے لړ کښ جناب کومو خلقو چه ناکے جوړے کړی دی د هغوی پوره Detail ما غوښتے دے۔ زمونږ خو لا دوه میاشتے نه دی شوے چه مونږ راغلی یو او زه دوی له دا تسلی ورکوم چه انشاء الله مونږ به کوشش کوو خو په هغے کښ ډیر لوئے لوئے خلق Involve دی او خما خیال دے سپیکر صاحب په دے سلسله کښ تاسو سره هم مونږ درے میټنګونه کړی دی او تاسو هم هغے وخت کښ Helpless وئ۔ پرابلم دا دے او د هغے خلقو خلاف به انشاء الله مونږ ایف آئی آر کټ کوو او د لوئے نه لوئے سړی خلاف په هم مونږ انشاء الله پوره قانونی کارروائی کوو۔

جناب پیر محمد خان: سپیکر صاحب! خما مقصد دا دے چه دا اوچ نهر د کله نه جوړشوے دے؟ خکه چه دا راته اوسنے نه ښکاری، د کله نه جوړ دے او د کوم وخت نه تر کوم وخت پورے اوچ دے؟ او آیا اوس پکښ اوبه شته که نشته؟

وزیر آبپاشی ۔ سپیکر صاحب ! زه د دوی مشکور یمه خو دا دِ دَ کونسچن په صوورت کښې مونږ ته راکړی نو مونږ به ورله بیا Detail ورکړو ۔

جناب سپیکر: خما داسے خیال دے چه---- (قطع کلامی)

حاجی محمد عدیل (ڈپٹی سپیکر)، جناب سپیکر پوائنٹ آف آرڈر پر ہوں۔ یہ اوچ نہر جو ہے یہ صرف نام ہے جیسے بعض لوگوں کا نام پیر ہوتا ہے لیکن وہ پیر ہوتے نہیں ہیں۔

جناب پیر محمد خان: دا ٹھیک ده، زه پیر نه یمه خو د اوچ نہر مطلب دا دے، د عدیل صاحب خبرے نه خو دا ثابته شوه چه اوبه پکښې شته، دا اوچ نہر هسے نوم دے نو هسے نوم نے دے که اوبه پکښې شته زه خو مطمئن نه شوم۔

وزیر ایریگیشن۔ ما خو د دوی په خدمت کښې خواست اوکړو چه دےکښې اوبه شته خو ډیرے کمے دی په دے وجه باندے ورته خلق اوچ نہر وانی او که تاسو د دے Explanation غواړئ چه کله جوړ دے؟ څنګه جوړ دے ؟چا جوړ کړے دے، ولے جوړ کړے دے؟ هغے نه څومره رقبه Irrigate کیږی ؟ نو د دے متعلق یو کونسچن پیش کړی نو د هغے به انشاء الله مونږ Answer پیش کړو۔

جناب سپیکر۔ خما خیال دے پیر محمد خان، منسٹر صاحب ایشورنس درکړو چه انشاء الله زر تر زره به ایکشن اخلی او کار به روان کړی نو-- (قطع کلامی)

جناب پیر محمد خان: په دے کښې به زه یو ریکویسٹ اوکړمه خکه چه د عدیل صاحب او د دوی په دے جواب کښې لږ تضاد غوندے دے، د هغه د خبرے نه دا معلومیږی چه اوبه پکښې شته۔ د دوی جواب دا دے چه اوبه پکښې کمے دی او خما انفارمیشن دا دے چه هډو اوبه پکښې نشته۔ نو که داسے اوشی چه

ستاسو په نگرانئ کښې يو کميټي مقرر شي چه مونږ لاړ شو او دا نهر اوگورو چه آيا دے کښې اوبه شته، که نشته، دا نهر د کوم ځائے نه راوستے شوے دے او اوبه پکښې ولے نشته ؟ او بيا ولے جوړ شوے دے، خرچ پرے ولے شوے دے ؟

وزير آبپاشي: ما خو عرض اوکړو چه هغے کښې اوبه ډيرے کمے دي او بالکل د نيش برابر دي- پرابلم دا دے چه Tail ته اوبه نه راځي- باقي نهر کښې اوبه روانے دي-

جناب سپيکر: Satisfied شوے خما خيال دے-

جناب پير محمد خان: نه جناب سپيکر صاحب، زه خو به هله Satisfied شم چه ستاسو په نگرانئ کښې مونږ يو چکر اولگوو- تاسو به راسره شئ او اوبه به اوگورو، خما خيال دے چه هغه د "دودھ کا دودھ اور پانی کا پانی" واله خبره ده-

وزير آبپاشي، خما دا خيال دے جي چه پير محمد صاحب هسے دا شوق لري چه ستاسو کورته لاړ شي او روټئ اوخوري- هغه بيله خبره ده - ما خو اووئيل چه Tail کښاوبه ډيرے کمے دي او تقريباً د نيش برابر دي او باقي نهر کښې اوبه شته -

جناب سپيکر: پير محمد خان هغوي وائي چه مونږ خپل کوشش کوو او انشاء الله زر تر زره به ، تاسو داسے مطلب اوګڼړئ چه زر تر زره به که خيروي پرے غور اوکړو -

جناب پير محمد خان: جناب سپيکر صاحب ! خما خيال دے جي چه يوه نيمه بجه ده، د رول مطابق ، تاسو په رولز ډير سخت روان يئي نو دے رول 20

کښې د يو ے نيمے بجے نه په اخوا چه دے په دے موسم کښې - --(قطع کلامی)----

جناب سپيکر: زه به تاسو ته Explain کړمه جی ---(قطع کلامی)----

جناب پير محمد خان: ښه جی دےکښې ---(قطع کلامی)---

جناب سپيکر: د رول 20 دا پاس فقره اوګورئ "Unless otherwise directed" نو د هغے Directed لاندے زه اوس څه اوکړمه که زه ، يو منټ جی ---(قطع کلامی)---

جناب پير محمد خان: دا (3) چه دے .Sitting of the Assembly -

جناب سپيکر: دا رول20 اوګورئ، رول 20، اوګورئ -

جناب پير محمد خان: جناب سپيکر صاحب ! دے خانے کښې دی " The Speaker shall adjourn the Assembly". ئے پکښې ليکلے دے کنه -

جناب سپيکر: لږ اوګورئ جی دا رول 20، تاسو د بره نه اوګورئ "Unless the Speaker otherwise directs" نو بيا دا نور لاندے راځی نو Otherwise direction مجبوری ده -

جناب پير محمد خان: Direction جناب سپيکر صاحب---------

جناب سپيکر: زه کوشش کومه چه تاسو مونږ سره لږ تعاون اوکړئ -

جناب پير محمد خان: خما په خيال جی چه تاسو مونږ له په ايجنډا کښې يوه نيمه بجه راکړه نو هغه ډائريکشن اوشو لو کنه ---(قهقهے)----

جناب سپيکر: ".Otherwise direct" پکښې شته دے جی - يو دوه به واخلو که ستاسو خوښه وی ستاسو د Interest د پاره، نو بس بيا به ئے ختم کړو- صرف دوه به واخلو جی که ستاسو خوښه وی نو بيا مطلب دا دے-------

آوازيں: واخلئ جی -

جناب سپیکر، دا خو چه ختم کړو کنه دا چه کوم دے۔ The cut motions are lost being withdrawn. The question is:

"that a sum not exceeding rupees one hundred and ninety three million only, be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of Irrigation Works, Working Expenditure Excluding Charges on Irrigation Establishment". Those who are in favour of it may say "Yes" and thoseagainst it may say "No".

(The motion was carried).

**Mr. Speaker:** "Ayes" have it. The Demand is granted.

دا یو به اوکړو جی او بیا به ختم کړو جی۔ The honourable Chief Minster, N.W.F.P.to please move his Demand No.10.

**Mr.Bashir Ahmad Bilour** (Minister for Irrigation):Mr. Speaker sir, (on behalf of Chief Minister), I beg to move that a sum not exceeding rupees six hundred, seventy six million ......

. ( Interruption)......

**Mr. Speaker:** You are moving it on behalf of the Chief Minister?

**Minister for Irrigation:** Yes sir. On behalf of Chief Minister, I beg to move:

"that a sum not exceeding rupees six hundred seventy six million

five hundredfifty thousand and eight hundred only, be granted to the Provincial Government fo defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of General Administration".

Mr. Speaker: The motion before the House is:

"that a sum not exceeding rupees six hundred seventy six million five hundredfifty thousand and eight hundred only, be granted to the Provincial Government fo defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of General Administration". There are some cut motion on this Demand. Mr. Pir Muhammad Khan, MPAto please move his cut motion.

جناب پیر محمد خان: جنا ب سپیکر صاحب زه په ډیمانډ نمبر 10 کښ د پانچ هزار روپو کټوتی پیش کومه۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees five thousands only. Mr. Ahmad Hasan Khan, MPA to please move his cut motion.

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر زه په مطالبه زر نمبر 10 کښ د پنځو سو روپو کټوتی پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees five hundred only. Nawabzada Mohsin Ali Khan, MPA to

please move his cut motion.

Nawabzada Mohsin Ali Khan: Mr. Speaker, sir, I beg to move a cut of rupess five only in this demand.

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupees five only. Mr. Najmuddin Khan, MPA to please move his cut motion.

جناب نجم الدین: جناب زہ پہ ډیمانډ نمبر 10 باندے د یو روپے کمتوتی پیش کوم۔

Mr. Speaker: The motion is that the total grant be reduced by rupee one only. Mr. Pir Muhammad Khan, MPA please.

جناب پیر محمد خان: شکریہ جناب سپیکر صاحب ۔ سپیکر صاحب، د ډیمانډ نمبر10 تعلق د جنرل ایډمنسټریشن سره دے او تاسو ټولو تہ معلومہ دہ چہ د جنرل ایډمنسټریشن خو شاخونہ هم ډیر دی خو کارکردگی ئے څہ دہ؟ نو د دوی کارکردگی ناقصہ دہ۔ هر یو شعبے تہ چہ مونږ گورو، د 1985ء نہ پہ دیخوا زہ گورمہ چہ کلہ د 1985ء اسمبلی جوړہ شوہ، نو هغوی لہ گاډی راوغوښتے شو او ورسرہ سیکرټریانو لہ هم راوغوښتلے شو بیا پہ 1988 کښی هغہ ماتہ شوہ او نوی منسټران راغلل او هغوی لہ بیا نوی گاډی راوغوښتے شو او دغسے سیکرټریانو لہ، بیا هغہ اسمبلی چہ پہ 1990ء کښی ماتہ شوہ ، نوے وزیران راغلل نو بیا نوے گاډی راوغوښتلے شو او دغسے بیا پہ 1993ء کښی نو پہ دے باندے نہ پوهیږم چہ کومہ اسمبلی ماتہ شی نو چہ دے وزیرانو لہ کوم گاډی راغوښتلے شوی وی نو بیا چہ نوی وزیران

راشينو چه څه چل دے چه هغه زاړه ګاډی څه شی په دے باندے زه تر اوسه پورے پوهه نه شوم- چه د 1985ء اسمبلی له ګاډی راغوښتے شوے دی، د 1988ء هغے له راغوښتے شوے دی د 1990ء او د 1993ء هغے له چه دا زاړه ګاډی بیا چرته ځی ؟ نو دا خو زاړه شوی هم نه وی او که زاړه شو نو چرته لاړل ؟ چه هره اسمبلی ماتیږی نو نوے ګاډی راغوښتل دا څه لازمه خبره ده او بیا جناب سپیکر صاحب، دے سیکرټریانو له ،دے غټو افسرانو له چه څومره ګاډی هر کال راغوښتلے کیږی، قیمتی قیمتی، مونږه ئے وینو او ټول عوام ئے وینی نو په دے هم نه یم پوهه چه زمونږ دا ملک دومره مالدار دے، یو طرف ته خو مونږ فریاد کوو چه پیسے راسره نشته، بل طرف ته زمونږ حالت دا دے چه، دلته وخت ډیر کم دے، مونږ خو بهر په دوره باندے تلے وو بعضے ملګری راسره وو او زمونږه سیکرټری نذیر صاحب هم راسره وو، نو جناب سپیکر صاحب د جرمنی چیف منسټر یک یوازے راغے او خپل فائل ئے په لاس کښې نیولے وو- هغه دغسے هغے لفټ ته راغے او چه مونږه راکوز شو نو د هغوی ئے مونږ سره تعارف اوکړو چه دا زمونږ چیف منسټر دے- نه هغه سره باډی ګارډ وو، نه ورسره پولیس وو او د هغوی نه چه مونږ د هغوی د ګاډو د طریقے تپوس اوکړو نو هغوی اووئیل چه زمونږ د وزیرانو او افسرانو د پاره سرکاری ګاډی نه وی- مونږ دوی له په کرایه باندے ګاډی نیسو، د میاشتے باقاعده کرایه ورکوو، په کرایه مو ورله ګاډی نیولی وی، سحر هغه ټیکسی دروازے له راشی، پنځه منټه لس منټه مخکښے او دا صاحب پکښې کینی که منسټر صاحب دے او که افسر صاحب دے، د دے ځائے نه ئے اوچت کړی، دفتر ته ئے اورسوی او

تیکسی واله ترے لاړ شی، خپل کور ته، خپله تیکسی کوی د ورځے چه هغه یوه بجه دوه بجے د چهټئی ټائم شی، لس آته منټه مخکښے بیا راشی او دا صاحب دفتر له راشی- هغه پکښ کینی او بیا خپل کورته ئے اورسوی او بیا ترے تیکسی خی، خپل تیکسی کوی- اوس زه په دے خبره نه یم پوهه چه مونږ د جرمنی نه هم مالدار یو، د ټولے دنیا نه مونږ مالدار یو چه هر کال گاډی راغوښتے کیږی ؟ بیا د هغے څه پته نه لگی نو یو خو دے باندے زه حیران یم، بیا دا پی اینډ ډی د دے سره محکمه ده، هغه بله ورځ پرے څه لږه روشنی ما اچولے هم وه، خو اوس هم زه بیا د دوی په نظر کښ راولمه چه په دے پی اینډ ډی کښ دا څومره شعبے کُھلاو شوے دی- د دے هغه Absorption نه کیږی- دے له خو څه کمیټی مقرر شوی وه- پرائمری ایجوکیشن دلته کښ دے سیکنډری ایجوکیشن دے، کالج ایجوکیشن دے، PEP پکښ دے، هغه دے ته Absorption او نه کړو- دا په یو پی ،اینډ ،ډی کښ چه څومره شاخونه دی ، څومره پراجیکټونه دی، په یو یو پراجیکټ کښ چه تیس تیس چالیس چالیس هزار روپئی یو یو سړے تنخواه اخلی ، محسن صاحب هغه طرف ته دِ توجه نه کوی سټر او اسی هزار پکښ اخلی او صوبه څمونږه غریبه ده، دغه نه کوی چهAbsorb کړی په یو بل کښ چه دا کومے محکمے ، که د ایجوکیشن ده، نو د ایجوکیشن محکمه شته، که د بلډنز ) سره تعلق دے نو بلډنگ محکمه شته، هائی وے شته، هغے او د دے مینخ کښ دے هغه کنکشن راولی دغه دِ ترے کم کړی کنه- نو دے طرف ته څوک توجه نه ورکوی- بیا جناب سپیکر صاحب د رشوت خو پکښ هم داسے حال دے چه د ایډمنسټریشن سره، ټولو سره ، که پټواری بدلیږی ، نو

په پیسو بدلیږی، خایو نه ښه پښیږی په یو یو خاے۔۔۔

ایک معزز رکن: په کوم خائے کښ۔

جناب پیر محمد خان: په هر خائے کښ، په ټوله صوبه کښ په کوم خائے کښ چه زیات ښه سټیشن دے، د هغے د پاره پیسے ورکړے کیږی بلکه باقاعده په پټواریانو باندے ماهواری مقرر ده، په تحصیل دارانو ماهواری مقرر ده، د مخکښے نه ده، په گرداورانو، یوازے ستاسو ورخو کښ نه ده، مخکښے نه ده، خفه کیږه مه خیر مه ویریږه، اوس هم چالو ده، دکوم وخت نه چالو وه، اوس هم جاری ده۔ نو جناب سپیکر صاحب هغه څیز هغه ماهوارئی پکښ شته، ټرانسفر په پیسو باندے کیږی، دغه کښ هغه څومره ریسرچ چه چلیږی په معمولی معمولی څیز نو د هغے، د امن امان خو نے دا حال دے جناب سپیکر صاحب، دلته ما هغه اخبار نن راوړے وو چه هغه گورنر صاحب چه پکښ څومره فریاد کړے دے، څمونږه د صوبے گورنر صاحب نو په هغه ے ترس اوشو ما اووئیل چه دے غریب خو ډیر بد راغلے دے څکه چه دے امن امان نشی راوستے۔ دا د هغه انټرویو وه تفصیلی، ډیر زیات غریب جوړ ژړلی قدره نه دی، څما خیال دے که زه ورسره وے ما خو به ژړلی وو۔ د ده دے خبرو ته، نو د دے انتظامیه او د پولیس د لاسه امن امان په داسے حال کښ دے۔

جناب سپیکر: مطلب دا دے چه ټوله کارکردگی نے ناقص ده، دا مطلب شو کنه جی بشیر خان به څه ایشو رنس درکړی، کارکردگی به نے سمه کړی۔

جناب بشیر احمد بلور (وزیر آبپاشی)، اوس به ټهیک پوزیشن راشی جی۔

جناب پیر محمد خان: جی دا Pending کیسیز ورسره دومره پراته دی - دوی

خان سره چه دا لړ نوټ کولے دا د دے محکمے سره چه کوم کیسونه وی د دے مقامی انتظامیه سره نو هغه Pending پراته وی د زمانو، خمونږ په سوات کښې د اے۔ سی سوات سره یو انکوائری کیس دے، جناب سپیکر صاحب 1979ء کښې یو سړی رپورټ کړے دے چه زما نه د پولیس دے انسپکټر او اے ایس آئی غلا کړے ده، اسلحه نے رانه پټه کړے ده او واقعی هر څه پرے ثابت دی۔ ګواهی پکښې شوے ده او هغه کیس تر اوسه، پورےPending پروت دے دا اے، سی،سوات په دفتر کښې خکه د هغوی زهن ته پریوتے ده چه واقعی دا سړے ملوث دے، سزا ورله ورکول غواړی۔ سزا به ورله ورکولے نشی څه مجبوری به نےوی، نو چه د 1979 کیس په 1997 کښې Pending پروت وی،دا ډیرهد بے انصافئی ډکه محکمه ده، نو دے طرف ته د دوی خصوصی توجه ورکړی۔ بیا د دے انتظامیه او د پولیس دوانړو، دا په دے پیښور کښې دا څومره اغوا ګانے کیږی، شه جی بس کوم جی ۔بلور صاحب کلے دے، دا پیښورد ده خپل کلے دے، دے غریب نوم نه شی اغستے، عدیل صاحب نه شی اغستے خکه چه دلته کښې دوی و یریږی۔ و یریږی چه خلق اغوا کیږی هسے نه چه ماښام راشی او ما اوتختوی نو د ویرے نه دوی نوم نه اخلی۔ مونږ دا د بهر خلق لرشان ساده ګان یو، نو مونږ راشو، دلته مونږ وایو پیښور کښې اغوا اوشوه، او دلته ګاډے، او دلته بچے، دلته د ګنج بخش واقع یاده ده، خو لیکن دوی پخپله نوم نه اخلی، بالکل چپ دی۔ دا څومره اجلاس چه تیر شو، دوی بالکل غلی شوی دی د ویرے نه خکه چه هر سړے دا دے چه، هسے نه چه که زه سر اوچت کړم او زما په سر باندے ګولئی اوورنی نو دے بد آمنی، دے هر شی ته چه اوګورو نو ایډ منسټریشن او

پولیس په دے کښې ډیر زیات فیل دے ـ دے طرف ته د دوی خصوصی توجه ورکړی ـ

جناب سپیکر: جناب احمد حسن خان' ایم' پی' اے' پلیز۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر زه به مختصر عرض دا اوکړمه چه د جنرل ایډ منسټریشن په حواله سره په جنر ل ایډ منسټریشن کښې چه کوم افسران دی نو هغه د عدم تحفظ شکار دی او د سیاسی خوا هشاتو د تکمیل په بنیاد باندے چه کله د هغوی تبادلے کیږی نو هغوی خپله Efficiency نه ښائی جناب فرید طوفان صاحب غلے شان تپوس اوکړو کله، ما هغه بله ورځخبره اوریدلی وه چه چا یو رور ما ته دا خبره رارسولی وه ، دا ستاسو په وساطت سره د هغوی په نوټس کښې راولم، کیدے شی چه هغوی انشاء الله تعالٰی تردید اوکړی ، اوسنئی خبره چه واتی سیکرټری ایس ایند جی- اے- ډی کوم لسټ د آفسرانو د بدلنی د پاره چیف منسټر صاحب له یوړو نوچیف منسټر صاحب خدائے دِ نکړی چه ایډیشنل چیف منسټر شی، جناب فرید طوفان خان صاحب هغه بله ورځ قهر ورله ورغلے وو نو هغوی ورته اوونیل چه دا پریږده دا لسټ واخله، دا بهرتی به اوکړنی دا ستا والا شے پریږده جناب سپیکر ، دا تیر خل چه کوم ټرانسفرز شوے دی په دے کښې ایس-ایس- پی پشاور په نوښار کښې بدلیانے کړی دی' پیښور ته، هغه آرډر تاسو اوګورئی جناب سپیکر پته به تاسو ته اولګی ، ځه پته نه لګی خو چا له ځنګه؟ خما عرض صرف دا دے د دے خبرے کول مطلب مے دا دے ، دا غلطی به مونږ هم کړے وی- شاید دا غلطی دوی به هم کوی- زه دا وایم چه هغوی په میرټ، ما په خپل د بجټ په تقریر کښې هم دا درخواست کړے وو، هاشم

خان په دے محکمه تعلیم کښې یو راغستے دے او بیا ئے دا خبره اوکړه چه دا مونږه د بی بی د حکم تعمیل کوو، مونږه هم د میرټ په بنیاد باندے د یو ډیر لوئے عذاب نه به خلاص کړی، هغے نه خلاص به شو او انشاء الله تعالیٰ چه د بهترنی طرف ته یوه خبره وی او هر سړے به پوهیږی او که په لسټ کښې اوګورئ د هغه نوم نه وی نو که مونږ له راشی مونږ به ورته وایو چه که بهانی بے انصافی درسره شوے وی خو چه مونږ درله چغه اووهو ،مونږ در له جهګړه اوکړو خو که بے انصافی نه وی شوے نو بیا ستا دا خبره غلطه ده۔ خما عرض دا دے چه د دے سیاسی مداخلت په بنیاد باندے چه کومے بدلیانے د شروع نه راروانے دی چه کوم مونږ ټول د دے یوه حصه یو، خما دا درخواست دے چه حکومت چه دا یو بهاری مینډیټ لری، اګرچه مینډیټمنن یو داسے هغه بله ورخ د لارنی په سیټ کښې یو سړے وانی ناست وو نو د هغه سره چه کومه لخته وه هغه چرته د بل سړی سره لړیده نو هغه ورته اوونیل چه دا مینډیټ دِ رایسته کړه یاره نو زه اوس دا نه شم ونیلے، مینډیټ هم د ملنډو شوے دے جناب سپیکر، زه په دے باندے نه پوهیږم ، خو د دومره بهاری مینډیټ ، خمونږ د دوی نه توقع ده چه د دے دومره بهاری مینډیټ حامل دا حکومت د دے اصلاح اونکړی جناب سپیکر، نو شاید چه بیا بل چا ته دومره بهاری مینډیټ ملاؤ نه شی نو خما دا درخواست دے چه ده دے د پاره د سیاسی عمل دخل په خانے ، دا صورت حال جوړ شوے دےنن اوس Industrialists راغلی وه جناب سپیکر، هغه خلق چه د هغوی به تورے چشمے په سترګو وے ښانسته سره ،سپین په انټر کولر کښې به ناست وو نن هغه په دے مجبوره وو، بشیر خان ورله هم ورغلے وو، زه هم ورله

ورغلے ووم ، د هغوی دا وینه ده هغه پولیس ډیوټی ولے نه کوی ؟ وائی په انیس جون باندے د آمان الله خان بچے اغوا شوے دے جناب سپیکر Leading industrilists دے او بیا هغه څه دهمکیانے ورکوی چه مونږ به د جمرود انډسټریل اسټیټ نه دغه کوو، ما به دا په پوائنټ آف آرډر باندے وئیل، زه چونکه ستاسو ډیر احترام کوم که څما په ځائے باندے حاجی عدیل صاحب وے نو د اسمبلئی د شروع کیدو سره به سمدستی هغه به په پوائنټ آف آرډر باندے دا خبره کړے وے، بشیر خان ورغلے وو، یوسف ایوب خانورغلے وو، هغه ورغلے وو ، څو As Member from Opposition Benches دا څما هم حق جوړیدو هغوی بیا څه وائی مونږه به هیڅ قسم ټیکس بیا نه ورکوو، دا هغوی لیکلی دی جناب سپیکر، دا د هغوی یو ډاکومینټ دے، بیا ئے وئیل چه یوټیلټی بلز به نه ادا کوو مکمل عدم تعاون به کوو او بله جناب سپیکر----

(قطع کلامی)

جناب سپیکر: احمد حسن خان! ټائم ډیر نشته ټائم ډیر نشته دے۔

جناب احمد حسن خان: خپل ملیشا ، خپل ملیشا فورس به یعنی، Parallel گورنمنټ به قائمه وو، دا ولے، دا ولے؟ دا پولیس دا ډیوټی ولے نه کوی ؟ په هغے کښی یوه وجه دا هم ده چه ده دے پولیس ده دے افسرانو د تعیناتئ فیصلے په سیاسی بنیاد او بد باندے کیږی۔ څما دا درخواست دے او څما دا یقین دے چه دا حکومت ئے کولے شی چه د دے تدارک اوکړی۔

جناب سپیکر: نوابزادہ محسن علی خان، ایم، پی، اے، پلیز۔

نوابزادہ محسن علی خان: جناب سپیکر صاحب ! ڈیمانڈ نمبر 10 ، General Administration ، اس پر تو بے شمار ڈیمانڈز ہیں Of different natures ، میں

آنریبل منسٹر سے صرف کیونکہ .He is representing the Chief Minister مجھے
بڑی خوشی ہے کہ میں نے یہ Figures دیکھے ہیں اور میرے خیال میں میرے جو
ساتھی اور بھائی بیٹھے ہیں وہ بھی بڑے خوش ہوں گے کیونکہ کسی نہ کسی کی لاٹری تو
نکل ہی آئے گی۔ جناب سپیکر! بجٹ انہوں نے ایسا بنایا ہے اور جس نے بھی بنایا
ہےبڑے مزیدار طریقے سے بنایا ہے۔ جناب سپیکر صاحب! ,On Page-41 sir
there is a column where it says Ministers.In 1996-97, They
show that there were 33 Ministers and they assumed and I
.hope rightly too کیونکہ میں تو بہت خوش ہوں گا اگر میرے جتنے بھائی یہاں بیٹھے
ہوئے ہیں ان کو بھی یہ موقع دیا جائے ۔۔۔۔(قطع کلامی)۔۔۔

ایک آواز: آپ کو بھی دیا جائے۔

نوابزادہ محسن علی خان: نہیں، نہیں۔ میں بہت کر چکا ہوں۔ And they
.assumed Mr. Speaker کہ 1997-98 میں پچیس وزیر اور بھی بنیں گے، یعنی
تعداد پچیس - The Finance and the Services and General
Administration Departments, for total number of Ministers in
this cabinet, they have budgeted for 25 Ministers and if you
look at Page-44 Janab Speaker Sahib! On Page-44, where it
says Advisors. In 1996-97, in the previous Government, there
.were eight Advisors آٹھ وزیر تھے جناب اور 1997-98 میں بھی انہوں نے آٹھ
ایڈوائزرز کی Provision رکھی ہے تو مطلب یہ ہے کہ انیس بیس کا فرق ہو گا
Between this and the previous Government, because اگر پچیس
منسٹرز ہوں گے اور آٹھ ایڈوائزرز ہوں گے، بجٹ بنے گا یا نہیں بنے گا مجھے اس کا پتہ

نہیں ہے - یہ بشیر بلور صاحب ہی بتا سکتے ہیں - On behalf of the Chief Minister but provision رکھی گئی ہے - The only other assurance I want from the honourable Minister is that where it says, it's on page-16, where it says divisional and district administration, the Item is 601801. Would the Minister categorically give an assurance to this House کہ انہوں نے اس بجٹ کے تحت اس ڈیمانڈ یا جو ڈیمانڈ انہوں نے پیش کیا ہے Will the Government honour and stand by this Demand No.1, because this refers and reflects all districts, divisions and tehsils Mr. Speaker sir, because when the Government has been very kind that they have not excluded a single district, a single division and a single tehsil, because all the funds provided in the 1997-98 budget provides for all those districts which existed in 1996-97. All the divisions which existed in 1996-97 and all the tehsils which existed in 1996-97. میں صرف اور صرف آنریبل منسٹر سے یہ ایشورنس چاہتا ہوں اس معزز ایوان میں کہ جو کچھ ان کی حکومت نے پیش کیا ہے اس بجٹ میں وہ اس پرعمل درآمد کریں گے اور اس میں کوئیChanges نہیں لائیں گے - تھینک یو سر-

جناب سپیکر : جناب نجم الدین خان' ایم' پی' اے' پلیز-

جناب نجم الدین : جناب سپیکر' ډیره شکریه جی - کوم جنرل ایډمنسټریشن چه دے جی' د دے موجوده حکومت په وخت کښ چه کوم په دے کښ مداخلت شروع شوے دے- خما په خیال چه ما پخپله باندے دا خبره اوریدلے

ده د مختلفو افسرانو نه چه یره مونږ ه هغه جیالے اوبخښل،او دے" پیارو" چه کوم کار شروع کړے دے نو مونږ هغه جیالے بخښلی دی۔ زه عرض دا کومه چه د ټول اید منسټریشن او انتظامیے په ذهن کښې دا خبره پرته ده، زه عرض لرم ، خما خیال دے چه دوی دِ هم کټ موشن پیش کړی، چه خبره اوکړی جی که هسے برناحقه د دغه څائے مداخلت نه کوی، خما خیال دے چه نه کټ موشن پیش کولے شی، په قلاره کیننی او د دوی کم ازکم دے حده پورے دلچسپی ده۔ دوی اوس په دے وخت کښې لږ را زیات شو۔ د دے نه مخکښې خوخیال دے پنځه کسان هم په اسمبلئی کښې نه وو وزیران صاحبان هم اکثر غیر حاضر وی--- (قطع کلامیاں)

جناب نجم الدین : زه دا درخواست کومه۔ زه به تاسو ته د خپلے ضلعے یو لنډ شان مثال پیش کړم۔ په دریو میاشتو کښې، د سو دن په حکومت کښې وائی چه سو دن حکومت راغلے دے او په هغے کښې مونږ څه کړی دی؟ په هغه سو دن کښې جی، خمونږ د دیر اسسټنټ کمشنر هغه درے څله بدل شو، درے څله بدل شو، یو وائی دا ښه دے، بل وائی دا ښه دے، بیا چه کوم ورځی نو وائی چه نه، زه به تا راولم او ته به دلته ناست نے، کار به کوے۔ د واړئ اسسټنټ کمشنر دوه څله بدل شو جی۔ د جندول اسسټنټ کمشنر دوه څله بدل شو جی، ډپټی کمشنر بدل شو۔ دا کلیرکټ مداخلت دے، کلیرکټ، خما چه څومره اندازه ده چه ایم پی ایز د هغه سره خبره کوی او ورته وائی چه زه به تا راولم په دے څائے کښې، کم ازکم زه دا عرض کوم زه دا نه وایمه جی، خما دا درخواست دے دوی ته چه دا یو څیز داسے پاتے وو، د نتظامیے دا پروګرام داسے پاتے وو چه په دے کښې حکومت به، د حکومت

مشرانو به سیاسی مداخلت نه منلو- خکه چه یو ډپټی کمشنر د یو ضلعے خودمختاره دے چه یو سړے یا ایم پی اے هغه راولی او هغه په هغه کرسئ باندے کینوی نو د هغه نه به د انصاف څه توقع اوکړئی او د هغه نه به د علاقے بلے دغه څه توقع اوکړی- نو خما دا خیال دے او خما د ذهن مطابق زه دے حکومت ته دا درخواست کوم، ټهیک ده لکه څنګه چه مونږ باندے رارووی، وائی په نوکرو کښ نے پیسے اغستے دی، نوخیر دے که دوئی پرے څوک بدل کړی، خیر دے که ایکسین صاحب هائی وے بدل کړی ،سی ایند ډبلیو والا بدل کړی- د ډسټرکټ کونسل چیف افسر بدل کړی او د هغه سره خپله هره څه خبره چه کوی-خو کم از کم دا ایډ منسټریشن چه کوم دے جی دا په داسے طریقه باندے ساتل په کاردی چه دا غیر جانبدار وی دا په هغه علاقه کښ د امن امان ذمه وار دی، نن چه امن وامان خراب دےجی نو انتظامیے ته تحفظ نه دے حاصل - تحفظ هغوی ته نه دے حاصل -او دا تحفظ هغوی د دے وجه نه دے حاصل چه یو وائی چه زه به تا نن په دیر کښ ډی سی کوم، بل وائی چه زه به دے په سوات کښ کمشنرکوم ،بل وائی نه زه به دے فلانی ځائے له بیایم ، پخواه به دا قصے په نورو حکومتونو کښ خما د ذهن مطابق به دومره مداخلت نه وو لکه څومره چه په دےحکومت کښ شروع دے -خما دا درخواست دے دوی ته ---(شور)--- زه خپله خبره کومه جی ما خو درته اووانیل چه د دیر اے- سی درے ځله بدل شوے دے، په کنکوټ کښ جی د دوو کالو نه تحصیلدار نشته، کوهستان په ایریا کښ، په دیر کښ د شپږ آتو میاشتو نه تحصیلدار نه وو، اوس نے ورله هغه بله ورخ ورلیږلے دے- تحصیلداران هلته کښ نشته دے -د خلقو چه کوم دے ،خمونږ خو جی

هلته زیات هغه فاټا ریگولیشن نه، اوس جی د خدائے په فضل سره شریعت تیر حکومت نافذ کړے وو د هغه شریعت مطابق چه کوم دے خمونږ ه قاضیان ناست دی جی او قاضیان چه کوم خبره کوی، نو زه حصوصاً جی بی بی ته درخواست کومه جی چه ټهیک ده که په نورو محکمو کښ څوک مداخلت کوی او که نه کوی خوخما جی تاسو ته دا پرسنل درخواست دے چه کم از کم په ایډ منسټریشن کښ چه هغه خمونږ د ټولو غیرجانبدارخلق وی او هغه په هغه باندے کینی، نو خما دا دومره اندازه ده چه د امن وامان مسئله به په دے طریقه باندے نه هواریږی ، دغه خما درخواست دے --( شور)-- او زه وایم جی، د دیر ضلعے زه عرض کومه جی که د دوی څه خبره نے په پوائنټ آف آرډر جی، په نورو خبره نشته جی، په پوائنټ آف آرډر خبره نشته دے د کټ موشن پیش کړی او خبره د اوکړی او که کټ موشن نے نه دے پیش کړے د ده د خبرے هیڅ حق نشته جی -تاسو پوائنټ اف ارډر اچتول هم بند کړی دی- خما جی د دیر ضلعے چه دیر بالا ضلع جوړه شوے ده، خمونږ خلقو سره فرید طوفان صاحب او ما وعده کړے وه نورو مشرانو وعده کړے وه هغه کښ جی هغوی ورله فنډز هم ایښودے دے، د درے میاشتو نه د هغوی ډپټی کمشنر نشته دے- بغیر ډپټی کمشنر نه یوه ضلع چلیږی- خما دا هم درخواست دے او بل چاته درخواست نه کوم، بی بی ته درخواست کوم چه دا دے فرید طوفان صاحب ته اووانی چه مونږ له دا ډپټی کمشنر راکړی او د خلقو هغه تسلی اوشی -بالکل بی بی، تاسو ما له تسلی راکړئ، په بل چا باندے مے یقین نشته جی- --(-تالیاں /قہقہے)---

جناب بہادر خان ، ما جی یو عرض کوو---------

بیگم نسیم ولی خان: دا تسلی ورله ورکوم چه د دوی په وخت کښ څومره غیر جانبدار ایډمنسټریشن وو، کم از کم دهغې نه به ښه غیر جانبداره وی۔

جناب سپیکر: بهادر خان، تاسو تشریف کیږدئی جی ۔هسے نجم الدین خان دا خپل Suggestion ورکړلو او کټ موشن نے Withdraw کړل، هاں جی۔

جناب نجم الدین: څما د منسټر صاحب، ما بی بی ته درخواست کړے دے چه دیر له ډپټی کمشنر به کله رالیږی؟ نوځما کټ موشن ختم جی --ما بی بی ته وئیلی دی، هغه دِ لږه تسلی راکړی چه صبا درلیږم۔ نورو ته مے هم ډیر سوالونه اوکړل جی۔

جناب سپیکر: هغه خو تاسو د رولز په مطابق د بی بی نه دا تپوس نه شئی کولے خو تاسو خبره اوکړه، هغوی جواب درکړو۔

جناب نجم الدین: ښه جی، منسټر صاحب، یره جی په بل چا مے اعتبار نشته څه اوکړمه۔ (قهقهے)

وزیر خوراک: جناب سپیکر صاحب ، نجم الدین صاحب چه کوم دے، معزز ممبر دے، دے ما له دفتر ته راغلے وو او وئیل چه صرف په تا مے اعتبار دے۔

(قهقهے)

جناب سپیکر: څه ښه ده کنه، په یو یو به په ټولو اعتبار داسے راشی۔ (قهقهے)

جناب احمد حسن خان: سر هغه اعتبار خراب شو څکه خو پرے نن نه کوی کنه

(قهقهے)

جناب نجم الدین : جی په منسټر صاحب باندے ما اعتبار کړے وو او هلته خلقو ته هم ما وئیلے وو چه منسټر صاحب مونږ سره خبره کړے ده۔ په هغه اعتبار دے، خو ده جی څمونږ سره وعده کړی وه چه زه اوس چیف منسټر

ته وایمه او تاسو له ډپټی کمشنر درلیږم جی۔ دا ئے هم راته ونیلی وو جی ستا د خپلے پارټئ والا کسانو د هغے مشری کوله جی د خپلے پارټئ کسانو کوله۔

وزیر خوراک: ما ورته اوونیل چه دا کار د چیف منسټر دے، زه به ستاسو خبره چیف منسټر سره اوکړمه او دا درته وایمه چه تاسو سره به بے انصافی نه کیږی۔

جناب سپیکر: پیر محمد خان، هغه د مونږ خبره دِ کړے وه، اوس څنګه چل دے؟ څه خپل ارخ ته د دیر ---

جناب نجم الدین: بس جی، زه خپل کټ موشن واپس اخلم۔ (قہقہے)

**Mr. Speaker:** The honourable Minister please.

وزیر آبپاشی: جناب سپیکرصاحب مهربانی، دا لږ Figures به دوی ته اوښایم چه 1992-93ء کښ 19.29% ایډ منسټریټیو اخراجات Increase شوے وو۔ بیا 1993-94 کښ چه هغه هم تقریباً 129. شوے وو۔1994.95 کښ جی 15.26 زیات شوے وو۔ بیا 1995-96 کښ 18.58 بیا 1996-97 کښ تاسو سوچ اوکړئ Previous 26.38 کال نه زیات شوے وو او دا مونږ په دے فخر کوو 1997-98 جی 1.47 Last year نه مونږ تقریباً Ten million rupees چه دے مونږ خپل اخراجات کم کړی دی ۔او دا دوی ته تسلی ورکوم، پیر محمد خان صاحب ته، چه اووه سوو نه زیات موټرے چه دی، مونږ Pool کښ اچولی دی او انشاء الله هغه به خرڅوو او دا پیسه په خپل قرضه جات کښ به ورکوو - مونږ د خپل منسټرانو نه ګارډز واپس کړی دی - څما رور اوونیل چه د هغوی تینتیس منسټران وو، تاسو پچیس Provision ساتلے

دے دا صرف Provision دے۔ زه تسلی دوی له ورکوم چه انشاء اللّٰه چه دس او پندره نه به زیات منسټران نه وی اوس د دس او پندره مینځ کښې، انشاء اللّٰه زیات به د دے نه نه وی او بل ورله تسلی ورکوم چه آټه ایډوائزر هم نه اخلو انشاء اللّٰه په فلور آف دی هاؤس دا خبره کوم۔ پکار ده چه لاس اوټپوی چه دا ستاسو--- (قهقهے/تالیاں)، بل بیا-- (قطع کلامی)

نوابزاده محسن علی خان: نہیں جی، اس میں تو ہنسی کی کوئی بات نہیں ہے بلکہ یہ تو افسوس کی بات ہے۔ کیوں ایڈوائزر نہیں بنائینگے جی؟

وزیر آبپاشی: ہمارا ایمان ہے اور ہم چاہتے ہیں کہ صوبے کے جو غیر ترقیاتی اخراجات ہیں، ان کو کم کریں۔ جناب سپیکر!------------(قطع کلامی)---

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! جیسے کہ یہ فرماتے ہیں کہ ہم منسٹر نہیں لینگے، مشیر بھی نہیں لینگے تو پھر وہ کیونکر ڈیسک بجائیں گے۔ ---(شور)---

وزیر خوراک: جنا ب سپیکرصاحب، زه بشیر خان، زه یوه خبره کوم۔ چه د اته په ځائے د یو ایډوائز اجازت د ورکړی، اووه به نه اخلو، یو به محسن علی خان واخلو--- (قهقهے)

وزیر آبپاشی: زه وایم سپیکر صاحب تاسو ته دا عرض کوم چه خمونږ دا ممبران چه دی، دا د وزارتونو د پاره یا مشیر توب د پاره نه دی راغلی۔ دوی یو سوچ له راغلی دی، دوی دا صوبه مضبوطول غواړی، د دے عوامو خدمت کول غواړی۔ د وزارت د پاره نه دی راغلی او نه ایډوائزرئ د پاره راغلی دی په خپلو ممبرانو فخر کوو چه باوجود چه خمونږ شپږ وزیران دی خوهغوی په خپل ګورنمنټ خمونږ نه زیات مئین دی او خپل خلقو باندے مئین دی۔

جناب سپیکر: خما خیال دے، تسلی مو اوشوه، بشیر خان، د ټولو تسلی

اوشوه، د ټولو تسلي اوشوه۔ هغه نورو خو Withdraw کړلو جی۔

وزیر آبپاشی: محسن علی خان خبره اوکړه چه دا د ډسترکټ، ډویژن باره کښې تاسو کومے پیسے اینبودے دی، دا به تاسو Change کوئی نه یا ښه یا بد ۔ محسن علی خان ته دا تسلی ورکوم چه دا حکومت عوامی حکومت دے، دا حکومت د دے صوبے د ترقۍ د پاره انشا ء اللّٰه هر څه به کوی۔ مونږ به هغه خبره کوو چه د صوبے د عوامو د پاره به ښه وی او چه د صوبے د عوامو د ترقیاتی کارونو د پاره ښه وی۔ انشاء اللّٰه دا زه تاسو ته تسلی درکوم چه داسے ناجائز اوغلط کار د دے حکومت نه به نه کیږی۔

جناب سپیکر: د ټولو Withdraw شو کنه جی۔ All the cut motions are lost being withdrawn. The question is:

"that a sum not exceeding rupees six hundred seventy six million, five hundred fifty thousand and eight hundred only, be granted to the Provincial Government to defray the charges that will come in course of payment for the year ending 30th June, 1998 in respect of General Administration". Those who are in favour of it may say "Yes" and those against it may say "No".

(The motion was carried).

**Mr. Speaker:** The"Ayes" have it. The Demand is granted. The sitting is adjourned and we will re-assemble tomorrow at 9.30 a. m. Thank you very much.

اوشوه، د ټولو تسلی اوشوه- هغه نورو خو Withdraw کړلو جی-

وزیر آبپاشی ، محسن علی خان خبره اوکړه چه دا د ډسترکټ، ډویژن باره کښې تاسو کومې پیسې اینبودے دی، دا به تاسو Change کوئی نه یا به یا بد -محسن علی خان ته دا تسلی ورکوم چه دا حکومت عوامی حکومت دے، دا حکومت د دے صوبے د ترقئ د پاره انشاء الله هر څه به کوی- مونږ به هغه خبره کوو چه د صوبے د عوامو د پاره به بهه وی او چه د صوبے د عوامو د ترقیاتی کارونو د پاره بهه وی- انشاء الله دا زه تاسو ته تسلی درکوم چه داسے ناجائز او غلط کار د دے حکومت نه به نه کیږی-

جناب سپیکر ، د ټولو Withdraw شو کنه جی- ll the cut motions are lost being 'thdrawn. The question is:

ıat a sum not exceeding rupees six hundred seventy six million, five ıdred fifty thousand and eight hundred only, be granted to the ,vincial Government to defray the charges that will come in course ·ayment for the year ending 30th June, 1998 in respect of General ninistration". Those who are in favour of it may say "Yes" and e against it may say "No".

(The motion was carried).

Speaker: The"Ayes" have it. The Demand is granted. The sitting is ırned and we will re-assemble tomorrow at 9.30 a.m. Thank you very

(اسمبلی کا اجلاس بدھ 25 جون 1997 صبح ساڑھے نو بجے تک کے لئے ملتوی ہو گیا-)